هورچل

د(سیکار) تازه راپور

د کابل د اداري او امریکایانو د ماتې ډاګیز ثبوت !!

یوولسم کال لومړنۍ، پرلپسې ۰۱مه ګڼه، ربیع الثاني۱۴۳۸هـق، جنوري۲۰۱۷م

- ✓ د جهادي چارو په پرمختګ کې به نوي تعینات...
- ✓ افغانستان کې د اسرائیلي الوتکو (30000) پروازه !!

د غرب د معاش خورو ځواکونو کړنې!

دشام دتجزیه کولو یهودي پلان!

د امریکا هیټلر!!

د موالاة (کافرانو دوستي)...

خاطره...!!

د ترامپ، دیوال!!

عزل ونصب مسؤلین امارت اسلامی وتبلیغات ناکام دشمن!

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتينۍ خپرونه

يوولسم کال لومړۍ، پرلپسې ۱۰۱مه ګڼه، ربيع الثاني ۱۴۳۸هق جنورۍ ۲۰۱۷م

لړليک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د جهادي چارو په پرمختګ کې به نوي تعينات څه.....	۴
۳	افغانستان کې د اسرائيلي الوتکو (۳۰۰۰۰) پروازه	۶
۴	خاطره!!.....	۹
۵	د ژمي په يخنۍ کې د جهادي عملياتو ګرمي!.....	۱۲
۶	د امريکا هټلر!!.....	۱۴
۷	د غرب د معاش خورو ځواکونو کړنې!.....	۱۶
۸	ټرمپ، ديوال!!.....	۱۸
۹	يو هيواد او څو بيرغونه!.....	۲۰
۱۰	د شام د تجزيه کولو يهودي پلان!.....	۲۳
۱۱	د برتانيې لومړی وزيرې هم په افغانستان کې شست...	۲۷
۱۲	امريکا له خپلو غلامانو سره بيا داسې کوي!!.....	۲۸
۱۳	د اسرائيلو په ضد امنيت شورۍ نوې طرحه	۲۹
۱۴	عزل ونصب مسئولين امارت اسلامي وتبليغاتي	۸
۱۵	د جهاد فقهي مسائل.....	۳۷
۱۶	د اسلام غزوات او سرايا.....	۳۹
۱۷	د امارت پيغامونه.....	۴۴
۱۸	د موالاة (د کافرانو دوستي).....	۴۵
۱۹	جنګي جنايتونه (جنوري).....	۵۰
۲۰	په لويديځو ولايتونو کې د کابل اداري نظامي.....	۵۲
۲۱	د مورچل وړمې !.....	۵۸
۲۲	د ۲۰۱۷ز کال د جنورۍ جهادي خبرونه.....	۶۰

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حـــسن خپل | ايـــوب صـــافی
حـــســن زوی | حکمت بغلانی
زبـير مـسافر | حافـظ سعـــيد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

د(سیګار) تازه راپور

د کابل د اداري او امریکایانو د ماتې ډاګیز ثبوت !!

دامریکا نوې واکمن (ډونالډ ټرمپ) ته د(سیګار)مشر یا په اصطلاح د افغانستان د بیارغونې د څارنې لپاره د امریکا د خاص سرمفتش د دفتررئیس(جان سوپکو)په خپل (۲۶۰)مخیز تازه راپور کې کښلې ،چې د کابل اداره د هیواد تر ٪۶۰ پر کمه سیمه حاکمیت لري .

په راپور کې ویل شوي ،چې دکابل دادارې پولیس او اردو تپر کال له ګڼو پوستو په شا شول اود زرګونو بهرنیو سلاکارانو له مشورې او روزنې سربیره بیا هم له طالبانوسره په جګړه کې له ستونزو سره مخامخ دي .د افغانستان لپاره د امریکا د ځانګړي سرمفتش په راپور کې ویل شوي، د نومبر له میاشتې را پدې خوا د کابل اداره د ټولې خاورې یوازې په (۵۷ ٪)سلنې کنترول لري .

د سیګار سرمفتش (جان سوپکو) د امریکا د نوي ولسمشر ـ (ډونالډ ټرمپ) حکومت ته په خپل لومړني راپور کې همداراز ویلي، چې د کابل دادارې امنیتي عسکرو شمېر مخ په کمېدو دی، او د مخدرو موادو تولید په ډېرېدو دی.....

همداسې د دویچه وله دری ژبې المانې ویب پاڼې په حواله د کابل دادارې د دفاع وزارت ویاند جنرال وزیري ویلي ،چې طالبانو په تیرو(۱۰)میاشتو کې د دولتي ځواکونو په خلاف(۱۹۰۰۰) بریدونه تر سره کړي.

د ویب پاڼې د خبر پر اساس ښاغلی وزیري ویلي ،چې د تیرکال په نسبت په سږني کال کې د طالبانو د بریدونو شمیر ډیر لوړ و ، د نوموړي په خبره ،د طالبانو د(۱۹۰۰۰)پوځي حملو په مقابل کې دکابل دادارې عسکرو یوازې (۷۰۰)بریدونه کړي، چې دا ارقام نسبت د طالبانو زرګونو بریدونو ته ډیر کم دي.

بلې خوا جهادي منابعو هم دقيقاً ويلې، چې دهيواد(۴۱)ولسوالۍ دمجاهدينو تر بشپړتر واک لاندې دي او ډيرو ولايتونو مرکزونه او پوځي بارکونه هم تر جدي ګوابښ سره مخامخ دي، چې دکابل دادارې او خارجي بادارانو تر پرله پسې بريدونواو حملو سربيره بيا هم دوئ ندې توانيدلې چې فتحه شوي مراکزبيرته ونيسي .

ددې سربيره چې امريکايان او ددوئ په ګوتوجوړه شوې اداره کوښښ کوي، چې دخپل ضعف نکات اودشکست موارد له ولس اونړيوالو پټ وساتي او پدې سره خپل مورال بايللې عسکر داسلامي امارت دمجاهدينوپه وړاندې جنګ ته سوق کړي، خو بيا هم کله نا کله د(سيګار) په شان ځينې لويديځې تفتيشي- ادارې اويولړ نورې خپلواکې ټولنې دحقايقو په راسپړلوکې له مزيد صبرنه کار نشي- اخستلای .

دايو ډير بارز حقيقت دی،چې دکابل دغلامې ادارې عسکر نور دمجاهدينو دمقابلې وس نلري ،په درجنو درجنو وسله والې مليشې يې له اسلامي امارت سره يوځای کيږي ،خپلې امنيتي پوستې او عسکري قشلې تخليه کوي ،په نفسياتي لحاظ يې بشپړه ماتې خوړلې اونور دخپل سراو مال دژغورلو په غم کې ډوب دي، خو بيا هم يرغلګراو ګوډاګيان يې په ډيره مفتضحانه توګه خپل بری اعلانوي او خپل ماتې خوړلې جنګيالي جنګي اتلان معرفي کوي ،ددې خبرو جوت ثبوت دامريکاد(فلوريډا دايالت) په يوه پوځي اکاډمۍ کې امنيتي افسرانوته په وينا کې دطالبانو په وړاندې دامريکايي ځواکونو داعلی سرقوماندان په حيث د(بارک اوباما) پر خپله ماتې اودطالبانو په پوځي ځواک هغه ځرګند اعتراف او اعلان وو،چې دامريکا کنګرې يې ولړزولې او په ډاګه يې دخلکو دتصوراتو خلاف دافغانستان داسلامي امارت په وړاندې خپله شرميدلې ماتې اعلان کړه ،چې حقيقت دا دطالبانو هغه فتحه وه، چې نور يې دګوډاګيانو دمجرمانه چوپتيا دخاموشۍ خولې ماتې کړي او دطالبانوپه قوت يې اعتراف وکړ.

(بارک اوباما) په غير مترقبه توګه د(فلوريدا ايالت په مک ديل) هوايي ځواک اډه کې په خپلوخبرو کې دطالبانوپه پوځي ځواک ډاګيز اعتراف وکړ .

د امريکايي رسنيو د راپور له مخې، ښاغلي اوباما د متحدو ايالتونو د اعلي سرقوماندان په توګه د ملي امنيت په اړه په خپله وروستۍ وينا کې وويل«د امريکا له هلوځلو سره سره په دغه جنګ ځپلي

هیواد کې حالات لا هم بې ثباته دي . نه غواړم چې ګلورین تصویر وړاندې کړم، د افغانستان حالات لا هم سخت دي . له څه باندې(۳۰)کلونو راهیسې جګړه د افغانستان د خلکو د ژوند برخه ده. امریکا په دغه هیواد کې طالبان یا جګړه له منځه نه شي وړلی.....

تیر(۲۰۱٦ز)کال دمجاهدینودفتحواو دیرغلګرواوددوئ دغلامانو دماتې او رسوایې کال وو،دې کال کې مجاهدینودلوی څښتن په مرسته وکړای شول ،چې نه تنهاداچې دلسګونوولسوالیو مرکزونه او امنیتي پوستې فتحه کړي، دکندزپه شان دډیرو ستراتیژیکو ولایتونو مرکزونه یا بشپړ فتحه او یا یې ترپوځي کلابندی او محاصرې لاندې په میاشتو میاشتو وساتل او ګردې اکمالاتې لارې یې پرې بندې کړي ،دمجاهدینودجهادي فشاراو داسلامي امارت ددعوت وتنظیم په هلوځلو سلګونه بلکې زرګونه عسکر او پولیس یا له مجاهدین سره یوځای شول اود اردو او پولیسو له لیکو وتښتیدل ،چې د(سیګار) فوق الذکر راپور هم ددې خبرې توثیق او سپیناوی کړی اوهغې کې هم همدا اندیښنه راپورته شوي .

هاخواته داسلامي امارت دهیواد شموله جهادي پرمخیون دکابل دچارواکیو په مینځ کې هم ژور اختلافات رامینځته کړل، چې یوه بیلګه یې (اشرف غني او عبدالله) داخلي تصادمات یا دجنرال دوستم او اشرف غني خپلمنځي ناندرې او دشمال ولایتونو دجنګ لومړې کړښې ته دنومورې کمونست جنرال اړیستل وو،چې دارګ واکوال (اشرف غني او عبدالله)یې تر یو لړجدي پوښتنو لاندې راوستل، همداسې دشمال په جنګي محاذونو کې دراپورونو له مخې دکابل داستخباراتې چارواکیولخوادوستم دوژلو پلان ګذاري او دواکمن جمعیت ګونددمشرانو تر مینځ داخلي ژور اختلافات، هغه څه دي ،چې دمجاهدینو په وړاندې یې له ناکامیو وروسته ترمینځ باور او اعتبار له مینځه تللې اودحکومت چارې یې مختل کړي دي .

زمونږ له نظره تیر(۲۰۱٦ز)کال داسلامي امارت دفتحو ، دیرغلګرو او غلامې اداري دماتې کال و،لیرې نده، چې دالله تعالی په مرسته دا (۲۰۱۷ز)کال داسلامي امارت جوپي جوپي لښکرې دکابل دادارې په پوځي تاسیساتو،دقوماندې په مرکزونواوستراتیژیکو نکاتو فاتحانه ورننوځي اودیرغلګرونه پاک افغانستان کې دهیوادپه آسمانځکو منارو داسلامي شریعت سپین بیرغ د رپانده کولوځمکه هواره اوله هیواده دظلم او استبداد تغر تول کړي!

د جهادي چارو په پرمختګ کې به نوي تعينات څه اغيز ولري؟

شاهد (غزنيوال)

د معمول مطابق هر کال ژمی د مجاهدينو لپاره د پوځي تجهيزاتو او محاربوي احضاراتو يو مناسب فرصت وي.

افغانستان چې ډيری مساحت يې سرد سيره سيمې تشکيلوي د ژمي سړه هوا يې د جهادي تحرکاتو تر سره کول ناشوني کوي، هماغه وي چې له دې فرصت نه په استفادې سره مجاهدين د راتلونکي پسرلي لپاره امادګي نيسي او په خپلو سيمو کې د دښمن په خلاف د پوځي عملياتو په ځای پر پوځي احضاراتو او تجهيزاتومصروف وي.

د سړکال د ژمي په پيل کې د اسلامي امارت مشرتابه د نورو پوځي پلانونو د طراحي ترڅنګ د ۱۶ ولايتونو لپاره د نويو واليانو او پوځي مسؤلينو د ټاکلو اقدام هم وکړ.

د ولايتونو لپاره د نويو واليانواو پوځي چارواکو د ټاکلو طرح له نظامي او اداري لحاظه ډيره ګټوره او موثره طرح ثابتيدای شي.

په دې طرحې سره له يوې خوا د نويو ټاکل شويو واليانو او چارواکو په پوځي تجربو او مهارتونو کې زياتوالی راځي او له بلې خوا د واليانو ، پوځي چارواکو او د اسلامي امارت د نورو اداري او پوځي تشکيلاتو په تغير او تبديل کې د اسلامي امارت د مشر تابه اجرائي او تنفيذي صلاحيت ښه حس کيدای شي.

تر نويو تعيناتو وروسته

د اسلامي امارت په پوځي او اداري تشکيلاتو کې د ۱۶ ولايتونو د واليانو او پوځي چار واکو ټاکنه تقريبا د ژمني فصل په پيل د جدې په مياشت کې ترسره شول.

د جدي مياشتې له پيله د حوت تر اخيره پوری دری مياشتني ژمني فرصت کافي وخت دی، چې د اسلامي امارت نظامي کميسون په هيواد کې د راتلونکي پسرلي لپاره خپل پوځي پلانونه طرح کړي.

د مشر تابه له حکم سره سم نوي تعين شوي واليان او پوځي چار واکي به په هر ولايت

کې په تازه پوځي روحيې سره پوځي فعاليت پيلوي او هلته له شته مجاهدينو سره به خپلې تجربې او محاربوي مهارتونه شريکوي.

په دښمن باندې د نويو پوځي او اداري تعيناتو اغيز

امريکايان او په افغانستان کې د هغوي په لاس منځته راغلی مزدور رژيم چې تر بل هروخت زيات اوس د بې نظمۍ ، ګډوډۍ او اختلافونو ښکار دی ،د اسلامي امارت په تشکيلاتو کې رامنځته شويو اداري او پوځي تعيناتو سخت اغيزمن کړی.

هغوئ پوهيږي چې مجاهدين سر له اوسه لا د را تلونکي پسرلي لپاره په قوي عزم ، فعالې پوځي روحيې او تازه مورال د جهادي فعاليت اراده لري.

همدا لامل دی ،چې هغوی له سختي وارخطايي سره مخ او د اسلامي امارت د نويو تعيناتو په مقابل کې په ناوړه تبليغاتو او ابلهانه چټيياتو لاس پوری کړ.

د دښمن د دفاع او داخله چارو ويندويان د اسلامي امارت دې مبتکرانه اقدام دومره متاثر کړي، چې په دې اړه تبليغاتو کې يې بالکل د منطق او تعقل حس له لاسه ورکړی.

هغوی د اسلامي امارت د دغه اقدام په غبرګون کې وايي چې طالبانو (اسلامي امارت) ځکه د ۱۶ ولايتونو واليان او پوځي چارواکي بدل کړل چې هغوی د دوي په اصطلاح له کابل رژيم سره سولې ته ليوالیتا ښکاره کړې وه.

هغوی په داسې ډول د اسلامي امارت د يوه پروخت جهادي اقدام په خلاف تبليغات کوي چې کم تر کمه د هغه اقدام په جزئياتو يې هم ځان نه دي پوه کړی.

هغه خبر چې کورنيو او نړيوالو رسنيو د اسلامي امارت د نويو تعيناتو په اړه نشرکړی په هغه کې په صراحت سره دا ويل شوي چې طالبانو د (۱۶) ولايتونو واليان او پوځي چارواکي رد او بدل کړي دي. رد او بدل په دې ډول چې يو والي له يوه ولايته بدل شوی او په بل ولايت کې مقرر شوی.

د بيلګې په توګه د کندهار ولايت والي له کندهار څخه تبديلا د غزنی د والي په حيث ټاکل شوی.

د لوګر ولايت والي له لوګر څخه تبديلا د زابل د والي په توګه تعين شوی.

د زابل والي تبديلا د نيمروز د نوي والي په توګه مقرر شوی او همداسې نورټول نوي تعينات.

خو د رژيم وارخطا نشراتی چارواکي هسی د دې لپاره چې رسنيو ته ځان فعال معرفي کړي په ناسمو تبليغاتو سره يې د امارت د نويو جهادي تعيناتو په مقابل کې نامعقول غبرګون څرګند کړ.

افغانستان کې د اسرائیلي الوتکو(30000) پروازه !!

(بت شکن)

ديهودو دحکومت په تشکيل اوداسرائيلو ددولت په رسمت پيژندلوکې نړيوالو ښکيلاکي حکومتونو رغنده ونډه درلوده ،له هغې نه وروسته ،چې په (۱۹۱۷ز)کال کې دبريتانيا امپراطوری دفلسطين اسلامي خاوره اشغال کړه او له انګريزانو سره دمسلمانو ترکانو په مشری دعثماني خلافت پر ضد ځينوناسيونالیستو عربانوعملا په جنګ کې برخه واخيسته، نو هغه وخت دعربي مسلمانانو ډيرې ځمکې دفلسطين په شمول د عثماني خلافت له واکه ووتلې او دبريتانيا په قلمرو کې داخلې شوي .

کله چې په (۱۹۱۴ز) کال کې لومړی نړيوال جنګ وشو،نودبريتانيا ،فرانسې او ايټاليا په شان داروپا ستروحکومتونوپه پټه دعثماني خلافت دويش طرحه جوړه کړه او دعثماني خلافت له ماتې وروسته په (۱۹۱٦ز)کال کې فرانسويان او انګريزان سره سلاشول، چې منځنی ختيځ به خپلو کې وويشي ،چې تاريخ دا بدنامه معاهده د(سايکس-پيکوت)په نامه يادە کړي ده ، ددې نه وروسته دفلسطين په خاوره کې دبريتانويانو لخوا اسرائيلي حکومت جوړ او دمسلمانانوپه مړی پځه چاړه راکښل شوه .

په (۱۹۴۷ز)کال کې بريتانويانووغوښتل ،چې ځان څنډې ته او دملل متحد دسازمان له لارې دفلسطين اسلامي خاوره په عربي مسلمانانواو يهوديانو تقسيم او بيت المقدس ددوئ ترمينځ دملل متحد نظارت ته پرېږدي ،چې بالاخره د(نومبرپه ۲۹ کال ۱۹۴۷ز)کې ملل متحد د(۱۸۱)قطعنامې له مخې (٥٦٪)هغه ځمکه چې دفلسطيني بريتانياپه کنترول کې وه، يهوديانو ته وسپارله، چې هلته (۸۰٪)يهوديانووورسره اړيکه درلوده .عربي هيوادونو هماغه مهال دملل متحد داپريکړه چيلنج کړه او نړيوالې محکمې ته هم عارض شول ، همدا (۱۹۴۷ز) يهوديانوپه ټول فلسطين کې خپلواک حکومت اعلان کړ،چې بيا ددې نه وروسته ديهوديانو سره دعربي

مسلمانانوجګړې تر سره،يو لوی بشري ناورين پيل اوپه (۱۹۴۹-۱۹۴۸)نيټه يوکلن ستر جنګ وشو،خو چې دروسانواو اروپايانو ملاتړ يې درلود ، دادی نن هم اسرائيليان په فلسطين مسلط دي او دفلسطيني مسلمانانوسره يې جګړه روانه ده ،کله ترې خپل شخصي- ځمکې غصبوي او کله يې دزندان دتورو تمبو شاته بنديانوي او شهيدانوي يې !

له بده مرغه پر فلسطين باندې دانګلستان د حاکميت له پای ته رسيدو څو ساعته مخکې په (۱۹۴۸ز)کال داسرائيلو حکومت اعلان شو،نوپه (۱۹۴۸ز)کال کې دفلسطين په زياتو ځمکو له اشغال وروسته لويديځه آسيا دمديترانې په ختيځ کې ديهودو حکومت تشکيل شو،چې مساحت يې (۲۱۰۰۰) کيلومتره مربع وواونفوس يې (۳۶۹۰۰۰۰) کسه وو،پايتخت يې تل آبيب شو،دملل متحد دتقسيم له طرحې خلاف دکنست دقانون له مخې بايد دوئ پايتخت (بيت المقدس) ته وړی وی ،خو له امريکا پرته چې اصلې نماينده ګي يې اوس هم بيت المقدس کې ده ، هيڅا تراوسه بيت المقدس کې کومه سياسي نماينده ګې يا سفارت ندی خلاص کړی ،پايتخت يې لا اوس هم تل آبيب دی .

څه کم اووه لسيزې کيږي، چې دفلسطيني مسلمانانوسره داسرائيلوجګړه روانه ده او هره ورځ بيچاره فلسطينيان يا شهيدان ا ويا ديهوديانو زندان ته ليږل کيږل ،له همدې امله ده، چې دنړۍ مسلمانانو ورسره مقاطعه کړي او هيڅ کوم اسلامي هيوادیې په رسميت نه پيژني او نه ورسره سفارتې يا اقتصادي اړيکې رغوي.

يوازې څوګوتوشمير هيوادونه به داسې وي، چې دامريکاله ويرې نه ورسره پټې اړيکې ساتي، نور په عمومي صورت سره دنړۍ مسلمانان ديهودوسره دفلسطيني مسلمانانودظلم اوتيرې په وجه پريکون کړی او هيڅکله ورسره اړيکو رغولو ته ليواله ندي.

له بده مرغه افغانستان بيا له هغو هيوادونو څخه دی، چې دلويديځوالو تر يرغل وروسته تراوسه پورې پکې داسرائيلوبي پيلوټه الوتکو دمجاهدينو پرضد پروازونه کوي او دمسلمانانو کورونه، ميشت ځايونه بمباردمان کوي او خپله يهودي کينه سړوي ،ديهوديانو دالوتکو يرغليز شتون چې دا ډيرکلونه کابل کې وو، دکابل غلامې اداري ترې عام افغانان نه خبرول او ترپايه يې کونښښ وکړ چې له افغان ولس نه يې پټ وساتي او غربي اشغالګر چې داسرائيلي الوتکو دشتون په حساسيت پوهيدل نودوئ هم دا نه اعلانوله چې ددوئ سره ديهوديانوپه کمپنيو کې جوړې شوي الوتکې شته چې هغه هم دمجاهدينو او افغان ولس پرضد جنګيږې ،چې بالاخره دا خبره داسرائيلو ددفاع دوزارت يوې پوځي مجلې رابنکاره کړه او ويې ويل چې تر (۲۰۱۸ز)کال پورې به دجرمني له عسکرو سره دا الوتکې دمجاهدينوپر ضد جنګيږي .

خبرې سرچينو د اسرائيلو د دفاعي چارو دمتخصصې مجلې تازه ګڼې په حواله د هغو اسرائيلي الوتکو څخه پرده پورته کړې، چې په افغانستان کې په جګړه بوختې دي.

دغه مجلې ويلي چې د اسرائيلو بې پيلوټه الوتکې «هېرون ۱» به په افغانستان کې د جرمني ځواکونو له لورې د کال تر ۲۰۱۸ پورې په عملياتو کې برخه واخلي.

د مجلې په وينا جرمني له کال ۲۰۱۰ څخه د يوه اسرائيلي شرکت سره عقد امضا کړی، تر څو په افغانستان کې ددوی ځواکونو لپاره بې پيلوټي الوتکي جوړې کړي.سرچېنه کارې چې تر اوسه د اسرائيلو بې پيلوټه الوتکو په افغانستان کې تر(۳۰ زره) زيات پروازونه کړي دي.

خو دا يې نه دي ويلي، چې څومره يې بمبار او څومره يې په کشفي عملياتو کې برخه اخيستې ده. د اسرائيلو دغه الوتکي په دې وجه هم د جرمني ځواکونو خوښيږي، چې هم په کشفي عملياتو کې برخه اخلي او هم کولای شي، چې د اړتيا پر وخت بمبار وکړي.

سرچينې ويلي: چې په دوهم عقد کې جرمني اسرائيلی شرکت ته ۳۵ مليونه ډالر د لومړي قسط په توګه سپارلي او نوري به وروسته ورکوي، خو د ټول عقد قيمت يې نه دی په ډاګه کړی.

د مجلې په وينا هر څوک چې دغه الوتکي د اسرائيلو څخه اخلي ،نو اسرائيلي تخنيک کاران هم ورسره استخداموي ،خو جرمني دا خل غوښتنه کړې، چې تخنيکي مسؤوليت به يې د دوی وي .

پداسې يوه هيوادکې چې وګړې (۹۹٪) مسلمانان وي او داسرائيلوسره داسلام ، مسلمانانو او فلسطين پر سردښمني لري ،دداسې يوه حکومت لخوا چې خپله اداره دولس استازې بولې اواسلامي جمهوريت هم ورته وايې، خو بيا هم داسلام د قسم خوړلو دښمنانو او سرسختو معاندينودالوتکو او جنګي وسايلو شتون او په اصطلاح دسوله ساتو لخوا يې دې اسلامي هيواد کې کارول څه معنی ؟؟!

يهوديانو به ددې الوتکوپه ديرش زره پروازونو کې څومره مجاهدين شهيدان او څومره ودانۍ به يې ړنګې کړي وي ؟ دوئ چې د مسلمانانوپر وينوتويولو خپله سينه يخوي آيا زمونږ زرګونه هيوادوال به يې بې ګناه او په مظلومانه ډول نه وي شهيدان کړي ؟

هو ولي نه !!! پايله ترې دا اخستلای شو،چې دهرې ورځې په تيريدو دکابل داوسنۍ منحوسې اداړې مفاسد ،فجايع او داسلامي شعايرو پر ضداعمال رابرسيره کيږي او ددوئ ا صلې څيره ولس او قوم ته بربنديږي .

شايد راتلونکی ولس دداسې يوې بې دينه او غولونکې اداړې پر انتخاب کې له سره فکروکړي او نوي کتنه پکې وکړي او بيا دداسې پلورل شويوځيرو پر شعارونو ونه غولیږي !

خاطره .....!!

موسې فرهاد



« عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «يأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الْقَابِضُ عَلَى دينه كالقابض على الجمر» رواه الترمذي

زما د عمر دوه نیم برابره عمر یې وو ، سپینه ږیره ، دنګ سړی و ، حالاتو ډېر ځپلی ، خواری پرسر اخیستی ، آریان دریان په داسی حال کې ناست و ، چې د وېرې او ترهې آثار یې له ورایه په ځیره کې څرګند وو ، تا به ویل ، چې بدن یې یو څاڅکی وینه هم نلري. دا غم ځپلی محمد عالم کاکوڑ ، چې خپل ټول پنځه اویا کلن عمر یې د غربت ، نیستی ، محرومیت ، او محتاجۍ په ویرجنه غیږه کې را تیر کړي وو ؛ خو نن هغه ټول یو خوا او دا شیبه یې د ویرې او غم له پلوه ډېره وربانديې درنه وه. دی نه پوهیده چې پر کوم بد مرغه برخلیک واوښت ، او د چا بدو سترګو وخوړ چې د قبر په ځیر دې توري او تاریکي زیرزمینۍ ته یې را ورساوه ؟ په هیښ ، هیښ کتلو یې ځان ته ویل: ما خو تراوسه نه د چا ور ډبولی ، نه مې څوک ځورولي ، نه مې چا ته په لاره کې اغزي کرلي او نه مې بله کومه تادا کړي ؟! آخیر ولي ؟ زه کوم بېرحمه دغو ظالمانو ته په لاس ورکړم چې په دې سپینه ږیره او مات ګوډ بدن یې نور هم په وهلو ټکولو پښتی را ماتي کړي.؟ آخیر ولي زما ګناه څه ده ؟

له سترګو نه یې د شبنم په څیر د اوښکو څاڅکي راتلل ، مګر ډېري ویروژنکې صحنې یې ژړا په ستوني کې ډب کړې وه. ګډوډو خیالونو د هغه د حس او ادراک لاري ټولي تړلي وي. د قفس د مرغه په څیر یې د پنجرې دننه یوې او بلي خوا ته سترګي داسي غړولي لکه د خپل مرګي د قاصد لاري چې څاري. شیبه وروسته یې زما پر پنجره سترګي ولګیدې چې د ده سېل ته مخ په مخ وه. هلته له یو بل سره د خبرو کولو اجازه نه وه. که چا په لوړ آواز خبرې کړي وای او ساتونکو عسکرو اوریدلي او یا لیدلی وای ، د هغه به خیر نه ؤ. ځکه مې په ښکاره ورسره څه ویلای نشوای. ما هڅه وکړه چې د لاس په اشاره ورسره خبرې وکړم او لږ یې دلاسا کړم، خو ده له ویرې ځان نور هم یوې ګوښې ته غلی کړ.

هره شیبه به د ځارنې په موخه عسکر ورته راتلل ، یوه نیمه پوښتنه به یې هم ځینې کوله ، نوم دې څه دی ، کور دي چیرې دی ، څه کار کوي ، ربښتیا وایه دروغ مه وایه . دا او دې ته ورته نورې پوښتنې... کـه څـه هـم دا ډول پوښـتنې کـول د ساتونکو نه ، بلکې د مستنطقینو وظیفه وه خو دوی بیا هم دا کار کاوه . د عسکرو اصلي دنده دا وه چې نوی بندي به راوړل شو ، نو دوی به په یوه پنجره کې ځای پرځای کاوه . د اوبو یو بوتل ، یوه زړه بستره، یو غاب ، یوه پیاله او قرآنکریم به یې ورته راوړو. نور د بندي لپاره هرڅه ممنوع وؤ ان که د خپل ځان شیان یې وای ؛ هم یې اجازه نه وه .

لنډه داچې محمد عالم کاکو ډېر وارخطا ښکاریده ، دومره پوهیدی چې دا زندان دی او زه دغو خلکو د کوم طالب ، مجاهد او یا کوم مُلا په تور راوړی یم. حال داچې کاکو نه مجاهد ؤ ، نه طالب او نه مَلا . بلکې نالوستی ، عاجز ،سپین ږیری کاریگر افغان مهاجر ؤ چې خپل کور کلی او وطن یې د نورو سلګونو زرو هیوادوالو په څیر د سرو ، کفارو له لاسه پرې ایښی او هجرت ته اړ ایستل سوی ؤ .

بهر حال ، څو شیبې وروسته یو تور عسکر چې توره ، بدشکله او لغوړنه څیره یې وه ؛ سپین ږیري بندي تـه د نـورو شـیانو ترڅنګ قرآنکریم راوؤړ تر او سپنیزي پنجرې یې لومړی قرآنکریم ور وایستی ورته ویل یې ، واخله. سپین ږیری چې لا له وړاندي هم وهم اخیستی ؤ ؛ سر یې را پورته کړ ویـل یـې: دا چشـی دی ؟ هغـه ورتـه وویـل: واخلـه دا قـرآن دی. ده ویـل: نـه ، نـه زه قـرآن نـه غـواړم ، زه نـه طالـب یـم ، نه مَلا یم. زه بې ګناه یم زه غریب سړی یم ، مزدوري کـوم. تاسي ولـي زه بندي کړم. زما څه ګناه ده ؟ . عسکر چې په ژبه یې هم نه پوهیدی؛ بیا ورته وویـل: واخلـه دا قـرآن دی. تـلاوت کـوی بـه یـې. سـپین ږیـري بیـا ورغبرګـه کـړه: قسـم دی کـه زه یـا طالـب یـم ، یـا مَـلام یـم یامجاهـد یـم. زه قـرآن نـه کـوم. زه طالـب نـه یـم ، تاسي بې ګناه راوستلی یم. دا وخت په ژړا هم شو ، په لوړ آواز یې ویل: تاسي اوس له ما څخه په زور طالب جوړوئ ، مـا تـه قـرآن راکـوئ. زه پـه خـدای قسـم کـه طالـب یـم، نـه مـلا یـم نـه مجاهـد یـم. زه بـی ګنـاه یـم. قـرآن زه نـه کـوم. د پنجـرې یـوه کـونج تـه یـې مـخ واړاوه. ډېر فریاد یې کاوه. چونکه زما پنجره ورته نژدې او مـخ پـه مـخ وه ؛ دغـه تـورلینګي عسـکر ماته وویل: دا پوه کړه ته پخپله پښتو کې ورسره خبرې وکه. ما ورته وویل ستا په مخکې له ماسره هـم خبـرې نـه کـوي ، تـه ولاړ شـه زه بـه ورتـه ووایم. عسکر ولاړی. ما او یو دوو نورو ملګرو چې د هغوی پنجرې هم ورتـه نژدې وي ؛ خبـرې ورسره پیل کړي. په وطني لهجه مې ورته وویل: کاکو ستړی مه شي. مه خپه کیږه. ته آزاد یې. تاته هیڅ نه وایی. ته ولي داسي ډېر پریشانه یې. مورږ هم ټول ستا په شان خلک یو. دلته ډېر کسان دي. دغه قرآنکریم درواخله. تـلاوت کـوي بـه یـې. دا خـو یوازي د طالب او ملا نه دی. دا خو د هر مسلمان دی. چې لمونځ وکړي ، او قرآنکریم تلاوت کړي.

دعاء وکړي نو به دې الله پاک ژر تر ژره آزاد کړي. د قرآنکریم په اخیستلو ته طالب کیږي نه. ویریږه مه.

بیا سپین ږیري نوري پوښتنې هم پیل کړي. ویل یې داځنګه او کوم ځای دی؟ ما ورته وویل: دا زندان دی، دا د هغه چا لپاره جوړ شوی دی، چې مسلمان وي او د امریکایانو خلاف جهاد کوي او یا له هغوی څخه عملي کرکه او نفرت لري. نه اسلامي او نه انساني چلند یې ته وینې. دا په ځمکه کې لاندې جوړشوی دی.

یوه اوږده کوڅه ده چې شل متره اوږدوالی او یونیم متر بر لري حمام ته ورته وړې وړې کوټې ورته راخلاصي دي. چې د هري کوټې اوږدوالی دوه نیم متره او بر یې یونیم متر دی. فقط یو سړی پکښې ګذاره کولای شي، خو دوی اکثره وخت ۳ یا ۴ تنه بندیان وراچوي، چې ژوند یې خورا ترینګلی وي. د ژوند له هرډول آسانتیا وو نه بندیان بې برخې وي. ځکه چې امریکا دا ډول بندیان غیرقانوني او له حقوقو څخه محروم اسیران ګڼي.

خوراک مو سهار یوه پیاله چای او یوه وړه ټیکله (ډوډۍ)، غرمه مهال همیشه... چې یوازې په اوبو کې ایشول شوی او سره مرچ پکې ترحد زیات اچول شوي. مابنام هم دې ته ورته خواړه پاخه وي خو بدلیدونکي یعنی کله سابه، کله سپوره شوروا او داسي نور... د عسکرو چلند ډېر ناوړه، ظالمانه، ځورونکی او توهین آمیزه وي.

د لته داسي خلک هم بندیان دي چې له یوه کال نه تر ۸ کالو پوري وخت یې کیږي چې په دې کوټه قلفي کې پراته دي. تراوسه پوري یې یوه ورځ هم لمر نه دی لیدلی. دې او نورو تفصیلاتو اوریدلو سپین ږیری نور هم حیران کړ. په ژړا شو، ویل یې پر مسلمانانو څه حال دی....

سپین ږیري محمد عالم کاکو ته مې وویل: تا ولې قرآنکریم دروانخستی، قرآن شریف درواخله موږ تولو را اخیستی دی.

ده وویل: هسي نه چې د طالب یا مجاهد په تور مې ترکلونو پوري بندي کړي. د نوموړي له دې خبري سره ما ته سمدستي د نبی کریم صلی الله علیه وسلم دا حدیث شریف را یاد سو چې فرمایلی دی: په آخره زمانه کې به اسلام داسي شي لکه د اور سکروټه، څوک به یې ور اخیستلای نشی چې لاس یې په سوځي، او نه به یې غورځولای شي چې ورته اړتیا لري.

« عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رضي الله عنه قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: «يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ الْقَابِضُ عَلَى دينه كالقابض على الجمر» رواه الترمذي

أنس ابن مالک رض وایی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: پرخلکو به داسی یوه زمانه راشي چې دین به د هغوی لپاره لکه د اور سکروټه داسی وي، چې نه به یې غورځولای شي ځکه چې مؤمن به دین یې دی او نه به یې ور اخیستلای شی، ولې چې لاس یې وربانديي سوځي. ترمذی

پای

د ژمي په يخنۍ کې د جهادي عملياتو ګرمي!

معين احمد

د ژمي د ساړه موسم په پيليدو سره معمولا په افغانستان کې د جهادي عملياتو په شدت کې کمي راځي.

ځکه مجاهدين چې معمولا د بهرنيو ځواکونو او کابل رژيم په خلاف کوم پوځي عمليات تر سره کوي هغه د خرپ او ترپ (ګوريلايي) بريدونه وي، چې په هغو کې له سپکو وسلو او د ليرد له سپکو نقليه وسائطو لکه موټر سايکلونو او کوچنيو ګړندي موټرونو څخه استفاده کوي.

دا چې په ګوريلايي جګړو کې تر ټولو بريالي تکتيک کمين نيول او شپني عمليات وي ،هغه دواړه په ډيرو سيمو کې د سختي يخني له کبله ناشوني کيږي چې په دې سره په طبيعي ډول د مجاهدينو په پوځي عملياتو او تحرکاتو کې هم کمي راځي.

خو سړکال ژمي د مجاهدينو د لوړ همت په برکت د هيواد په ټولو سيمو کې د يخني له موسم سره سره مجاهدينو خپل پوځي عمليات داسې جاي وساتل چې هيڅ ځای هم د جهادي فعاليتونو کمی محسوس نه شو.

د امريکا او ناټو پوځي چارواکو هم په دې اعتراف وکړ چې سړکال د ټول ژمي په ترڅ کې د طالبانو (اسلامي امارت) د پوځي عملياتو په تشديد کې هيڅ کمی نه دی راغلی.

همدا اوس اوس چې مجاهدين د ژمنۍ فصل په دوهمه مياشت (دلوه) کې قرار لري هم د هيواد په ډيری برخو کې د دښمن شکيدلې ځالې د مجاهدينو تر پوځي محاصرې لاندې دي.

همدا اوس د هلمند، قندهار، قندوز، غزني، بدخشان ، تخار ، ننګرها او ... سيمو کې سره له

دې چې دښمن تر مختلفو نومونو لاندې د پوځي عملياتو تر سره کولو ادعاوې لري خو بياهم مجاهدينو په فاتحانه توګه د هغوی په مقابل کې جهادي مورچلونه ګرم ساتلي.

د روان هجرې شمسي کال له پيله تر اوسه پورې د رژيم د دفاعي او امنيتي چاواکو په اعتراف مجاهدينو د دښمن پر سيارو او ثابتو مرکزونو ۱۹۰۰۰ پوځي بريدونه تر سره کړي.

د روان کال د سلواغې د مياشتې په پيل کې د دويچه وله دری ژبې جرمني ويب پاڼې د رپوټ پر اساس د رژيم د دفاع وزارت ويانډ جنرال وزيرې اعتراف وکړ چې طالبانو په تيرو ۱۰ مياشتو کې د دولتي ځواکونو په خلاف ۱۹۰۰۰ بريدونه تر سره کړي.

نوموړي په کابل ښارکې د يوه مطبوعاتي کنفرانس په ترڅ کې وويل چې د تيرکال په نسبت په روان کال کې د طالبانو د بريدونو شمير ډير لوړو و، د نوموړي په وينا د طالبانو د ۱۹۰۰۰ پوځي عملياتو په مقابل کې دولتي ځواکونو يواځې ۷۰۰ بريدونه کړی چې دا ارقام نسبت د طالبانو زرګونو بريدونو ته ډير کم دي.

که واقعا د جنرال وزيري لخوا د دولتي ځواکونو په خلاف د مجاهدينو د بريدونو ورکړل شوی ارقام ريښتيا وي نو دا خو په پوځي لحاظ د دولت په نسبت د اسلامي امارت د زيات محاربوي فعاليت او برلاسي ښکارندوينه کوي.

ځکه دا چې مجاهدين په مياشت کې د دولتي ځواکونو په مقابل کې۱۹۰۰ پوځي حملي تر سره کولای شي نو طبيعي ده چې د دغومره زياتو عملياتو لپاره همدومره زياتو پوځي پرسونلو ، همدومره زياتو پوځي تجهيزاتو او د عملياتو د تطبيق لپاره په همدو مره کچه پراخې اراضي ته ضرورت دی چې دا ټول په مقايسوي انداز په دولتي ځواکونو باندې د اسلامي امارت د برلاسي او ځواکمنتوب نښه بلل کيږي.

له پورتنۍ فرضيې څخه دا جوتيږي چې د ملي يووالي حکومت په هيواد کې نه پوځي حاکميت لري او نه هم ولسي حمايت ؛ ځکه يو حکومت چې په يوه مياشت کې د خپلو مخالفينو لخوا ۱۹۰۰ ځله تر برید لاندې نيول کيږي معنا يې داده چې د هغه حکومت د ملاتړو په نسبت د هغه مخالفين زيات دی.

دامریکا هټلر!!

بشیر

په امریکا ډونلډ ټرمپ دواکمنۍ دولس کاله نه ایله څو ورځې کېږي ، په دومره لنډه اوتنګه موده کې دهغه لخوا چې څومره متعصبانه ګامونه پورته شول دهغو منفي تاثیرات شاید په امریکا او نړۍ تراوږدې مودې اغیز فریباسي.

کله چې ډونلډ ټرمپ خپل انتخابي کمپاین د کرکې او تعصب زیږونکو شعارونو په بدرګه ترسره کاوه، دامریکا دننه او بهر په لوی شمېرکې خلک اندیښمن وو ،لیکن بل پلوته نړۍ لوی شمېر سیاسي کتونکي او څېړونکي په دې خوشبینۍ کې ښکېل وو چې رسماً دحکومتي چارو دواګو اخستلو وروسته به ډونلډ ټرمپ مسؤلانه برخوردترسره کړي او هیڅکله به هغه ته دامریکا تجربه کاره ښېروکراسي دا اجازه ورنکړي چې هغه دې په رښتیا هم دتعصب څخه د ډکې اجنډا په عملي کولو لاس پورې کړي خو په عمل کې دغو خوشبینو برعکس ټرمپ دولسمشر په توګه دلوړې سره سم دخپل انتخابي کمپاین دتعصب څخه ډکو شعارونو ته دحقیقت رنګ په ورکولو کې له ځنډه کار وانخیست او په خورا بېرنۍ توګه یې موعوده ګامونه یو په یو پورته کړل چې ورسره د دشناندو هغه ټولې خوشبینۍ خطاء ثابتې شوې.

دخبري سرچینو په وینا: ټرمپ امریکا ته دشامي مهاجرینو په ګډون داوو اسلامي هېوادو(ایران، عراق، سوریه، لیبیا، یمن، صومالیه) وګړو د ورتګ په اړه دبندیز فرمان لاسلیک کړ چې ورسرهسم دامریکا په ټولو هوایې ډګرونو کې عمل پیل شو.

او دیادو هېوادو سوونه وګړي چې امریکاته دسفر ټول قانوني اسناد او پاسپورټونه ورسره شته دامریکا دامنیتي ادارو لخوا نیول شوي او امریکا ته له تګ څخه یې راګرځولي دبندیزونو په لړ کې ددغو هېوادو هغه وګړي هم راځي کوموته چې د امریکا حکومت لخوا په امریکا کې داستوګنې لپاره شنه کارتونه ورکول شي او دازیاتره هغه څوک دي چې امریکالپاره یې په مختلفو برخو کې خدمتونه ترسره کړي خونن یې دخدمتونو بدله داشوه چې امریکاته له تګ څخه راګرځول شوي، داپه حقیقت کې دامریکا ټولو غلامانوته بدپیغام دی چې امریکا هیڅکله دهغوی

دوست او خپل هېواد نـدی بایـد سر لـه اوس نـه دامریکا لـه غلامـی نـه توبـه وبـاسي او دخپلـو هېوادوالو ترڅنګ دامریکا دشـیطاني سیاسـت او راردو په وړاندې راپورته شي کنه ددینه به یـې هـم حالت ډېر بدتروي.

بل پلو ډترمپ په حکم دعمـل کولـو لـړ کـې دمنځني ختیځ پـه مختلفـو هـوایې ډګرونـو کـې دهوایي شرکتونو الوتکي دیادو هېوادو وګړو دوړلو ځخه ډډه کوي او په لوی شمیر مسافر په بد حالت کې هوایي ډګرونو کې له ستونزو او کړاونـو سره مخ دي

ډترمپ په وینا: ددې بندیزونو موخه داده څو امریکاته دترهګـرو دورتـک مخنیـوی وشي ، پـه لومړي ګام کې ددې لپاره څلورمیاشتې تاکل شوي دي ، نړۍ کې ډترمپ دغه حکم پـه پراخـه کچـه غندل شوی دامریکا دننه هم په سوونو زره کسـان ددغه پریکړې په ضـد احتجاجونـه شـوې او هـم دامریکا نه بهر یې په وړاندې مخـالف تونـد غـبر ګونونه پاروليدایران حکومت هم په مقابـل کـې ایران ته دامریکایې وګړو پـه ورتـګ بنـدیز اعـلان کړی، دایران ولسمشر حسن روحاني ویلي:

نړۍ کې دولسونو ترمنځ ددیوالونو جوړولو په ځای ددیوالونوړولو تـه اړتیـا ده، دفرانسـې او جرمني دبهرنیو چارو وزیرانو ډترمپ پرېکړه زیـان لرونکـې ګڼلـې دملګـرو ملتونـو دکـډوالو ادارې دامریکا له دولت غوښتې چې په دغه پرېکړه دې بیا کتنه وکړي .

دامریکا دننه ددې پرېکړې پـه غبرګـون کـې کیلي فورنیـا ایالـت کـې دامریکـا ځخـه دبیلتـون غوښـتنې قـوي ځپـه راپورتـه شـوې فیسـبوک جوړونکي (مارک زکربرګ)هم ویلي:

دامریکا ټول خلک لـه بهـره راغـلي او هغـه خپلـه هـم دیـوې داسـې کـورنۍ غـړی دی چـې امریکاته له بیرون ځخه ورغلي، ګوګـل ادارې هـم دغه بندیز دامریکا دګټو سره په ټکر کې بللی او په اندیي: په دې سره بـه امریکاتـه دصـلاحیتونو او استعدادونو دورتګ لارې وټړل شي

لنډه داچې ډترمپ دتعصب نه ډکې تګلارې په ضد په ټوله نړۍ کې غـبر ګونونـه ښـودل شـوي دنیویارک یوې محکمې ډترمـپ حکـم ځنـډولی او چارواکوته یې امرکړی چې دمحکمـې دوروسـتۍ پریکړې پـورې دي دولسمشر- پـه فرمـان اجـرآت وځنډوي دیته په کتو داسې تمه او توقع شته چې ډترمـپ پرېکـړه دامریکـا پـه محـاکمو کـې هـم دحقوقي او قانوني پلوه له ننګونو سره مخ شي

په دې توګه ډترمپ د ګفتـار او کـردار دوارو ته په پام سره بریښي چـې امریکـا بـه دهغسي- تقسیم او شکست سره مخ شي ځنګه چـې دهټلـر دنسل پالنې او متعصب ذهنیت جرمني دشکسـت او تقسیم سره مخ کړ په نړۍ کې ډیری خلـک پـه دې باور دي چې ډترمپ پالسیاني به امریکـا لپـاره جدي ستونزې او ننګـونې وزیـړوي او ټرمـپ بـه دامریکا لپاره دجرمني هټلر ثابت شي.

د غرب د معاش خورو ځواکونو کړنې!

قاري سعيد

همدا اوس کـه پـه ټـولنيزو رسـنيو کـې وګورئ يو زيات شمير هيوادوال به ووينئ چې د امريکـا لخـوا پـه روزل شـويو داخـلي ځواکونو لکه اردو، پوليسو او اربکيانو باندې ويار کـوي او هغـوی د خپـل مسـلمان اولـس واقعي استازي او ساتونکي معرفي کوي.

دوی ددغـو ځواکونـو يـوازې نسـبي او نژادي ټراو ته متوجه دي او وايي چې دوی لږتر لږه له افغانسـتان سره تـړاو لـري او د همـدې اولس بچيان دي، نور نو دې ته فکـر نـه کـوي چې که د خپل اولس يو مسـلمان کـه يـو ځـل غدار او د پردیو اجير شي بيا ضرر خپلې ټـولنې ته پردیو کافرانو په مراتبو زيات وي.

همـدا اوس د نـړۍ پـه لراوبـر کـې پـه مسلمان ملت تر ټولو سـخت ظلمونـه د هغـو حاکمانو او زورواکو لخوا کيږي چې په نسـبي لحاظ له مسـلمان ملـت سره تـړاو لـري امـا د عقيدې او فکري ټراو له اړخه د غـربي کفـارو ګټو او اهدافو ته متعهد دي.

دا چې د نړۍ په نورو برخو کې د امريکـا په ډالرو مسـت پوځيـان لـه خپلـو محکومـو اولسونو او مظلومو اسـلامپالو سره کـوم ډول چلند کوي راځئ دلته د مصر د ظالمو چـارواکو د قساوت يوه واقعي داستان ته متوجه شو تـر څو پوه شو چې که په خپل هيواد کې د غـربي کفر معاش خورو حاکمانو ته د سلطې فرصت ورکړو، نو څه ډول تورو ورځو ته بايـد انتظـار وباسو.

څه موده وړاندې مې يوه ويـډيو وليـده، چې په مصر کې د اخوان المسلمين د يوه غـړي حسن أنور ميرمنې په کې خپل دغـم داسـتان داوښکو په بدرګه ويلی دی .

حسن أنور د اخوان المسلمين يو ټيټ رتبـه غړی دی، چې اوس د مصري پوځ په زندان کـې پـروت دی، د مصرـي پـوځ مسـتنطقين لـه

نوموړي څخه په ناامنيو کې د لاس لرلو اقرار غواړي،خو حسن أنور چې په هيڅ ناامني کې لاس نلري، له ځانه ورته اقرار نشي کولای، له بيلابيلو شکنجواو تعذيبونو وروسته مصري پوځيان د حسن أنورتصوير اخلي او دده کور ته ورځي، په کور کې يې له ميرمنې سره مخ کيږي،دحسن أنور تصوير ورته ښيي چې آيا دا پيژني؟ ميرمن يې وايي : هو دازما خاوند دی. مصري پوځيان د حسن أنور ميرمنې ته زولنې اچوي او هغه زندان ته يې وړي، چې حسن أنور په کې بندي دی،په زندان کې مصري پوځيان له دغې مستورې ميرمن څخه حجاب او جامي لري کوي او بيا حسن أنور ته وايي چې ژر اقرار وکړه کنه ستا په مخکې دې په ميرمن جنسي- تيری کوو، حسن أنور چې داصحنه ګوري نو وايي : سمه ده زما ميرمن خوشي کړئ زه په هر څه اقرار کوم... خو لږ شيبه وروسته وايي: ښه نو زه څه ومنم؟ په څه شي اقرار وکړم؟ تاسو يې راته وښاياست چې هغسې ووايم؟

دحسن أنور دا خبره مصري پوځيان له اعتراف څخه په انکارحسابوي اوله دې سره په ډير وحشت د نوموړي د سترګو په وړاندې دده په عفيفه ميرمن ډله ايز جنسي تيری کوي.

د حسن أنور مظلومه ميرمن په اوښلنو سترګو او دسلګيو په بدرګه وايي چې د شپې له ۱۰ بجې تر ۱۲ بجو وربانديې د خپل زولانه ميړه د سترګو په وړاندې جنسي تعرض روان و، او وروسته ظالمو مصري پوځيانو په ډير بدحالت له زندان څخه وايستله .

دغه ميرمن وايي چې له دې سره شوی جنايت استثنايي نه دی، بلکې مصري پوځ له اکثرو اخواني اسلامپالو څخه د اعتراف لپاره له همدې طريقې کار اخلي،چې په پايله کې يې توقيف شوي کسان په نه کړيو جرمونو اعتراف ته اړ کيږي .

د مصر پوځ يو استعماري پوځ دی،چې څو لسيزې وړاندې داستعمارګرو له وتلو وروسته د هغوی ځاياستی شوی او کټ مټ د هغوی کردار ترسره کوي،دغه پوځ له انورالسادات وړاندې د شرقي کفري استعمار لخوا اکمالیده او له هغه وروسته چې أنورالسادات خپله قبله له روس څخه دامريکا په خوا واړوله اوس يې امريکا اکمالوي .

د مصر- د پوځ کردار د اسلامپالو په وړاندې د استعماري او اجيرو پوځونو يوه بيلګه ده،چې په ټولو اسلامي هيوادونو کې تکراريږي،هغه اسلامپال چې په امريکايي راشن چليدونکې اردو ورته ملي ښکاري بايد چې په دغه ډول پيښو لږ دماغ وجنګوي او ځانونه په تشو عنواناتو ونه غولوي .

دټرامپ، ديوال!!!

خليل – عزيز

دغرب اوامريکا همیشني شعارونه اوتاوده تبليغات داوو،چې دولسونوترمنځ دتوکميزو، نژادي اونورو توپيرونو دله منځه وړلوپه برخه کې جديت لري اوددوئ په ويناددیمکراسي اوجمهوريت يومهم اصل يې همداناري سوري تشکيلوي.

امريکااوغرب دتاريخ په اوږدوکې په همدغوجالبووپلې نمايشي عناوينو په مټ وکولای شول، چې په پاتې دنيا خپله سلطه اوسيطره برلاسي اوقائيمه وساتي

خودماډرينت اونړئ سازی دغه مبلغين ،چې کله پوه شي چې نوريې په همدې نارواوسوروکې خپله ګټه اونفعه نشته، نوبياټول حدود اوارزښتونه پايمالوي اوترينه اوړي

اوسني وضعيت کې امريکااوغرب خپله پرمختياوقوت په دې کې وينې چې له اسلام اومسلمانانوسره په دښمنی سربيره ترخپلو منځونو هم دتوکم اونژاد پالني شخړي بيا پيل اوتير حالت اوتاريخ ته وروګرځي .

يووخت غربيانواوامريکايانوددې لپاره چې ځان بشري غوښتنواوحقوقوته زيات ژمن وښيي ، نودهيوادونوترمنځ يې دپولو، ديوالونو اونورو خندونودله منځه وړولوپه حق کې ګړندی هلې ځلې کولې تردې چې په اساسي قوانينوکې يې په همدې برخه کې مثبت تعديلات هم راوستل .

خوددیمکراسی اوبشري ارزښتونوپه اصطلاح مدافعين اوس په دې لټه کې دي ،چې ځان په اوږدو، دنګو اوپلنو ديوالونوکې راونغاړي اوهغوخلکوته دورتګ اومهاجرت اجازه ورنکړي، چې همدوئ يې په هيوادونوکې دجګړو اوناورينونو اورونه بل کړي اودژوندتولې اسانتياوي يې ورنه اخيستي دي .

دبرلين ديوال چې ۲۸ وړاندې ونړيد امريکايانواوغربيانو دتاريخ سترتحول وباله، چې ګواکې دانسانانوترمنځ دکرکې اونفرت يولوی حايل اوخندله منځه ولاړ، خواوس امريکايان بيرته هغه تاريخ تکراروي اوله مکسيکوسره په پوله غواړي له برلين څخه اوچت ، پلن اواوږوديوال ووهي.

دبرلين ديوال :

نومورې ديوال چې دساړه جنګ يوناوړه يادګار بلل کيده ،په ۱۹۶۱ کال جوړ اوتر۱۹۸۹ کال پورې دوام وکړ ، دغه ديوال دالمان مشهورښاربرلين کې ودان ۱۵۵ کلومتره يې

اوږدوالی او۲ متره یې لوړوالی درلود چې له امله یې دبرلین ښار په دوبرخوویشلو ، په شرقي برخې یې پخواني شوروي اتحادقبضه لګولې وه اوپه غربي برخي یې امریکا، برتانیا او فرانسي پنجي خښي کړي

خودولسونودمقاومت اونه په شاتلونکو غوښتنو په وړاندې هماغه پولادی اواوسپینیز دیوال تاب رانه وړ، دلس هاوو زرو خلکودهجوم په نتیجه کې په کال ۱۹۸۹ دنوامبرپه ۹ نیټه دبرلین دیوال ونړول شو او عملادوه منطقي بیرته سره کوشیراوولسونه عملا سره یوځای شول .

داسرائیلو(اپارتاید) دیوال :

د۲۰۰۲ کال په اپریل میاشت کې دفلسطینیانوددوهمې انتفاضي یاپاڅون په مهال داسرائیلوغاصب رژیم دځان دخوندیتوب اوامنیتي دلائیلوله مخې دنوموي دیوال په جوړول پیل کړ،خوورسته په ډاګه شوه چې دایواستعماري هڅه وه چې دزیاتي فلسطینی خاوري اشغال ته یې زمینه سازي وکړه

دغاصب رژیم دیوال (۷۰۸) کیلومتره اوږدوالی او۳ متره اوچتوالی لري ، دهمدغه دیوال له کبله چې ۹۹ فیصده په فلسطینی خاوره کې جوړشوفلسطینی ولس یې په خپله خاوره کې له تګ اوراتګ څخه منع اوهم یې له زیاتوطبعي حقوقوڅخه بې برخي وګرځول .

که څه نړیوالو سازمانونو او د ملګرو ملتونو ګڼو مصوبونوموړی دیوال دنژادي کرکي اوبشري ارزښتونودنقض کرښه یاده کړي اودنړیدوغوښتنه یې کړي ،خودا امریکاوه چې هرځل دقابض رژیم ننګه وکړه اودنورواسلام ضدهڅوترڅنګ یې ددیوال دنړولو مخه هم ډب کړه .

اروپایي دیوال :

داروپایي هیوادونوترمنځ داسې یوتړون وجودلري، چې ترخپلومنځوبه هرډول پولي اوخنډونه له منځه وړي ، خوپه هغه سربیره هم دمجارستان هیوادچې داروپاغړی هیواد دی دکډوالودورتګ له ویرې یې له صربیا اوکروواسیا سره دزندانیانوپه لاسونو۱۷۵ کیلومتره دیوال چې ۴متره لوړالی لري ابادکړ.

دټرامپ ۱۵ ملیاردي دیوال :

دامریکانوي ولسمشر(ډونالډ ټرامپ) دستورورکړی چې دامریکادخوندیتوب او دمهاجرینو دمخنیوي په خاطر به له مکسیکو سره په خپله پوله ۳۰۰۰کیلومتره دیوال جوړوي چې ۱۶ متره به اوچت والی لري ، ویل کیږي چې ټول لګښت به پرې ۱۵ ملیارده ډالرراشي ، ټرامپ وایي دنوموړي دیوال نیم لګښت چې ۸ ملیارده کیږي هغه به ارومرو دمکسیکوهیواد په غاړه اخلي ، خومکسیکو وایي چې دایوغیرې قانوني اوله بشري کرامت سره په دښمنی ولاړاقدام دی ، مکسیکوبه پکې په هیڅ بیه ونډه وانخلي

ټرامپ داهم ویلي چې له مکسیکوسره په پوله جوړیدونکی دیوال به دچین له تاریخي دیوال څخه دوه برابره اوچت اوپه نړۍ کې به بیسارۍ نوم ولري .

یو هیواد او څو بیرغونه!

احمد مختار

د افغانستان له اشغال څخه د امریکایانو یو هدف دا وه چې دا یوموټی هیواد هم د اسلامي نړۍ د ځینو نورو هیوادونو په څیر تجزیه او په څو ټوټو وویشي.

امریکایانو د دې هدف لپاره مختلف تکتیکونه وکارول.

هغوی تر خپل اشغال سمدستي وروسته د افغانستان د تجزیې ټول هغه عوامل چې اسلامي امارت له منځه وړي و بیرته راژوندي او فعال کړل.

امریکایانو د یرغل په پیل کې لومړی ټول جنګي مجرمین، د کورنۍ جګړې دخیل لوبغاړي، د شمالي ټلوالي غیر مسؤل ټوپکمار او پخواني تنظیمي جګړه مارانو د ډالري اجرت په ورکولو سره راټول او د اسلامي امارت د مجاهدینو په مقابل کې یې د پلي ځواکونو په حیث وکارول.

د وخت په تیریدو سره یې همدغه جنګي مجرمین څوک د ولسي جرګې د غړي، څوک د سناتور، څوک د والي او څوک هم د نورو دولتي چارواکو په حیث په رسمي ډول په هغه نظام کې سره راټول کړل چې د کرزي په مشري د امریکایي بي ۵۲ ډولـه بم غورځوونکو الوتکو تر سیوري لاندې د افغانستان پر مسلمان ولس تحمیل شو.

د کرزي د ۱۳ کلنې واکمنۍ په مهال همدا په جنګي جرمونو تورن جګړه مارانو په مستقیم او غیر مستقیم ډول داسې وپرسول شول چې هر یوه ته یې په دماغ کې د هیواد د تجزیې او ویشلو فکر ورترزیق کړ.

د کرزي تر واکمنۍ وروسته چې کله امریکایان وپوهیدل چې همدغه د افغانستان د کورنۍ جګړې تخریبي عناصر له پوځي، سیاسي او مالي لحاظه بنه غښتلي شوي او هر یو کولای شي د بل په مقابل کې په پوځي او سیاسي لحاظ مقاومت کړي نو هغوي ټول یې د خپل وزیر خارجه جان کیري په وسیله د ملي یووالي په نوم ګډ حکومت کې سره راټول کړل.

اصلا د غرب پلوه لیبرالانو او تنظیمي جګړه مارانو ترمنځ د ملي یووالي حکومت تر نامه لاندې له را یوځای کولو څخه د جان کیري هدف دا وه چې دا دواړه متضاد فکره ډلې به حتما یوه ورځ نه یوه ورځ د خپلو فکري، قومي او سیاسي اختلافاتو له وجې دا سې مرحلې ته رسیږي چې په یوه هیواد کې یې تر یوه نظام لاندې پاتې کیدل ناشونی او بالآخره به د فدارالي نظام په پلمه د هیواد په تجزیې او ویشلو اقدام کوي.

همدا راز امریکایانو غوښتل د جنګي مجرمینو د یوه مختلط کمزوري ترکیب (ګډ حکومت) تر واکمنۍ لاندې خپلې غوښتنې او مصالح پر هغو ومني.

همدا سې وشول د اشرف غني په مشرۍ ګډ حکومت تر جوړیدو ۲۴ ساعته وروسته سمدستي له امریکایانو سره د امنیتي تړون په نوم ننګینه معاهده لاسلیک کړه.

دغه شرمونکي معاهده کې مټ د ګندمک او ډیورنډ له شرمه ډکو معاهدو ته ورته لوظنامه وه چې په رسمي لحاظ یې د افغانستان ځمکه او فضا امریکایانو ته په واک کې ورکړه او د همدې معاهدې له مخې یې په راتلونکو لسو کلونو کې امریکایي پوځیانو ته په افغانستان کې د هرډول غیر قانوني کړنو او بشري جرمونو د ترسره کولو قضایي خوندیتوب ورکړ.

په افغانستان کې د ګډ حکومت له ایجاد ولو څخه امریکایانو څو اهدافه لرل.

له امریکایانو سره د امنیتي تړون لاسلیکول.

د ملي یووالي په پلمه د جګړه مارو ډلو له لورې د افغان ولس ترمنځ د ملي وحدت له منځه وړل.

د افغانستان د تجزیې لپاره په رسمي کچه تنظیمي، قومي او لساني فعالیتونو ته زمینه سازي کول.

د ملي یووالي حکومت تر سیوري لاندې د امریکایانو لخوا د قومي پاڅونونو په نوم داخلي اغتشاشات تحریک او اکمالول.

د داخلي جګړې د بيا پيلولو په غرض د سولې او پخلاينې په نوم له ځينو تنظيمي جګړه مارو سره توافق نامي لاسليکول.

دا هرڅه په مجموع کې د افغانستان تجزيې او د تجزيې عناصرو ته د قوت ورکولو په غرض تر سره شول.

آخرني نتيجه يې دا شوه چې په ګډ حکومت کې هر سهيم لوري ته داسې روحيه ورکړل شوه چې فقط هغه مريکايانو ته مطلوب جهت دې او سپينه مانې غواړي په مستقيم ډول يواځې له همدې جهت سره ځواکمن روابط ولري.

همدا اوس اوس په ګډ حکومت کې سهيم لوری هر يو جلا جلا بيرغ او هر لوري د هيواد د کورنۍ او بهرني سياست په اړه مستقله تګلاره لري.

د مثال په توګه اوس چې کله جنرال عطاء د ګډ حکومت له چارواکو سره ملاقات کوي نو د هغه شاته د خپل ګوند جمعيت اسلامي خپل ځانګړی بيرغ نصب وي ، حال دا چې نومورې دهمدې ګډ حکومت د يوه سرپرست والي په توګه د دې حکومت غړی دی او له سياسي لحاظه هيڅ حق نه لري چې تر مستقل بيرغ

لاندې د حکومت له رسمي مقاماتو سره خبري وکړي.

همدا راز د جنرال دوستم استازی د جنبش ملي تر بيرغ لاندې د ګډ حکومت له چارواکو سره خبري کوي او خپل ځان سره له دې چې د ګډ حکومت يوه برخه دي په نظام کې يو مستقل ځواک معرفي کوي.

د کابل رژيم ديپلوماتيک چارواکي يا په دغو ديپلوماتيکي نزاکتونو اصلا پوهيږي نه او يا پوهيږي خو د امريکايي دستور په اساس يې ځان ورباندې نا پوه اچولی.

يرغلګر امريکايان لګيادي د ګډ حکومت د سهامي چارواکو په موافقه او ملتيا په افغانستان کې د افغانستان د يوموټي هيواد د تجزيې او ويشلو سازشونه عملي کوي.

د شام دتجزیه کولو یهودي پلان!

حسن مومند

دا اوس له چا پټه پاتې نده ،چې دیهودو هدف یوائې دفلسطین قبضه کول نه و؛دفلسطین قبضه کول دپیل قدم و او اصل هدف دهغه ګریټرېالوی اسرائیل رامنځته کول دي چې دعراق،سعودي عربستان، ایران، لبنان، اردن،شام او ترکې نه نیولې دعربو خلیج،دعربوبحیرې دافریقا څه برخې او دافغانستان ترپولو ټوله سیمه پکې شامله ده.

داسې نده چې ګنې صهیونستان رښتیا هم په خپل دې هدف کې کامیابیدای شي یا به دوئ خپلې کامیابۍ ته هیله مند وي خو دا رښتیا ده چې ددې هدف لاسته راوړلو لپاره دوئ خپل کوښښونه روان ساتلي دي او دخپلو شیطاني پلانونو دوام ورکولو ته ژمن دي.

په ۱۹۴۸م کې یهودو دفلسطین محدودې سیمې قبضه کړې اوپکې یې اسرائیلي دولت اعلان کړ،بیا یې په ۱۹۶۷م کال کې دعربو او اسرائیلو ترمنځ درامنځته شوي جنګ په ترڅ کې دمصر،اردن،لبنان او شام څه برخې قبضه کړې او په فلسطین کې درامنځته شوي عاصب اسرائیلي دولت پولو ته وسعت ورکړی شو؛ په ۲۰۰۳م کې پرعراق دحملې او په ۲۰۱۱م کې دعربو دبهار په نوم درامنځته شویو ولسي پاڅونونو له لارې ددې پلان په عملي اقداماتو کې ډېره تېزي ترسترګو شوه چې تراوسه په منځني ختیځ کې دکورنو جنګونو په شکل کې دوام لري.

دا داخلي ټول جنګونه ددې لپاره دي چې ټول عربي هېوادونه سخت کمزوري شي ؛هرهېواد یې په څو برخو وویشل شي او هیڅ

ددې جوګه پاتې نه شي چې د اسرائیلو د پلان د تطبیق په وړاندې خنډ شي.

په ۱۹۸۲م کې د اسرائیلو په Haarelz نومې مشهور اخبار کې د اسرائیلو د نظامي چارو دیو شنونکي په نشر شوي مضمون کې راغلي و چې له اوله سره د اسرائیلو ستراتېژي داده چې خپلو پولو ته د وسعت ورکولو په موخه ورو ورو د عربو هېوادونه تجزیه او له خپلو یې کوچني ګڼ هېوادونه راووځي؛ پدې لړ کې باید اسرائیل په عراق کې د سنیانو او شیعه ګانو د دوه جدا هېوادونو درامنځته کولو لپاره خپلې هڅې ګړندۍ کړي؛ همدا راز په عراق، شام او ترکې کې ویشل شوي کردان باید یوځای کړي شي او دیادو هېوادونو په منځ کې د کردانو لپاره یوځانګړی هېواد رامنځته کړای شي.

دا باید له یاده ونه باسو چې دنړۍ ټول یهودان په ټولیزه توګه او اسرائیلیان په ځانګړې ډول د ,,ګریټر اسرائیل،، درامنځته کولو د شوم پلان د کامیابۍ لپاره ۳ خبرې اړینې بولي.

اول داچې په نړۍ کې باید اسرائیل ترټولو ستر اقتصادي او نظامي ځواک وګرځول شي؛ دیهودو دا ارمان هیڅکله هم پوره کېدونکی ندی خو داچې دنړۍ یهودان او اسرائیلي دولت د دې لپاره ډېرې زیاتې هڅې کوي نو لږ تر لږه دسیمې د ټولو اسلامي هېوادونو نه یې په اقتصادي او عسکري دواړو ډګرونو کې وړاندې بوتللی دی چې د ۱۹۶۷م کال په جنګ کې د مصر، شام او عراق په ځپر پیاوړو هېوادونو ته شکست ورکول د دې خبرې ژوندی روښانه ثبوت دی.

دوهم دا چې د فلسطینیانو ټولې خاورې قبضه او پکې یهودي ناقلینو ته کورونه جوړ کړای شي؛ غاصب اسرائیلي دولت دا پلان په لویدیځې ترانګې او غزې کې په ډېرې تېزی لګیادی عملي کوي چې د اسرائیلو او سني لومړی وزیر نتن یاهو دې کار ته له بل هر اسرائیلي مشر نه زیاته ژمنتیا ښکاره کړیده او د چانه له وېرې پرته په ډېرې سپین سترګی او ناړامی د اپلان تطبیقوي.

پخپله په اسرائیلي مطبوعاتو کې هم داسې راپورونه خپاره شویدي چې د نتن یاهو دواکمنۍ پرمهال په فلسطیني سیمو کې دیهودي ناقلینو لپاره په نویو مېشت ځایونو کې ۱۰۰ فیصده اضافه راغلې ده.

په عربي هېوادونو کې ګډوډي او کورنۍ جنګونه رامنځته کول او نتیجه کې د دې هېوادونو تجزیه کول دریم هغه څه دي چې

دنړی یهودان یې دلوی اسرائیل درامنځته کولو لپاره ضروري بولي.

په ۱۹۱۶م کې چې برتانیه او فرانسه د عثماني خلافت په ړنګولو کامیابه دنړیوالو زبرځواکونو ترمنځ دسایکس پیکو په نوم تړون رامنځته شو نو دهمدې ځای نه ددې کار بنسټ کښښودل شو ؛ددوهم نړیوال جنګ نه پس چې په ۱۹۴۸م کې غاصب اسرائیلي دولت رامنځته شو نو ددې ځای نه ددې کار عملي کښدل پیل شول؛په ۱۹۶۸م کال کې دعربو او اسرائیلو دجنګ په نوم رامنځته شویې جنګ کې دمصر،اردن،شام او لبنان نه دځه سیمو دقبضه کولو دا غاصب دولت نور هم پسې فراخه شو؛بیا په ۲۰۰۳م کال کې دامریکا له لورې دعراق دقبضې او په ۲۰۱۱م کې دعربو دبهار په نوم دولسې پاڅونو نو له لارې ددې پلان دوروستو مراحلو پرلور یومهم قدم پورته شو چې په شام،عراق او یمن کې دسختو او مخ زیاتېدونکو کورنو جنګونو په صورت کې یې وروستي نتایج هم ورو ورو رابښکاره کېږي.

داسې ښکاري چې اسرائیل په ګاونډي هېوادونو کې خپل شوم پلانونه په تدریج سره تطبیقول غواړي او اوس یې خپله زیاته توجو دشام لورته را اړولې ده او ترټولو وړاندې شام تجزیه کول او همدې لورته دخپلو پولو پراخول غواړي چې پدې اړه داسرائیلو لوړپوړو چارواکو ښه په څرګنده توګه اظهارات هم کړیدي.

داسرائیلو لومړی وزیر نتن یاهو چې تېر کال ډایوس ته په سفر تللی و نو د مشهورې اسرائیلي ورځپاڼې "یروشلم پوسټ" سره په کړې اوږدې مرکې کې یې ویلي وو :که شام تجزیه شي نو پدې سره به په منځني ختیځ کې امن راشي،،

شاید ډېر خلک دا فکر ولري چې دشام دتجزیې دا خواهش او پلان به اسرائیلو سره دشام اوسنو ګډوډیو نه پس راپیدا شوی وي خو خبره داسې نده دا خواهش او پلان ډېر زوړ دی؛په ۱۹۸۲م "اوډډیانون" نومې لویدیځوال جورنالست په خپل Strategy for israel in ninteen nineties نومې کتاب کې لیکلي و چې دشام دتجزیې لپاره داسرائیلو ډېر خوبونه ربښتیا کېدای شي.

اوس په شام کې داسې حالات رامنځته شویدي چې داوډډیانون ښکاره کړای شوی خوب اسرائیلو ته پوره کېدونکی ښکاري.

دنړی ګڼو غربي څېړونکو پدې اعتراف کړیدی چې اسرائیل امریکا او نورې

لويديځوال هېوادونه پلان لري چې شام په ۷ برخو وويشي او پکې ۷ کوچني ازاد دولتونه رامنځته کړي؛ چې ۲ هېوادونه به د شيعه ګانو ۲ د سنيانو ۱ د کردانو، يود دروزيانو وي او بل به د ګولان په سيمه کې د شامي عيسايانو دلپاره وي چې به پکې ازاد او مطمئن ژوند تېروي؛ دوئ وايي چې د عيسويانو دې هېواد ته به زاړه عيسويان؛ (قبطيان) هم رامنتقل کړای شي ترڅو د مصر د سخت دريزو مسلمانانو له لورې دوئ د متوجې شويو ګوابنونو نه خوندي شي.

د سيسه ګر وايي چې د اپلان عملي شي نو د بشارالاسد پلوي علويانو ته به دروم د بحيرې په غاړه جوړ شوی هېواد ورکړی شي ترڅو پرساحل د شتون له امله دوئ د بهرنۍ نړۍ سره په اسانۍ خپل روابط وساتلای شي.

د سنيانو يو هېواد به په شمال کې د حلب په شاوخوا کې وي او بل به د عراق سره پرپوله وي.

پدې کې شک نشته چې د اسرائيلو او نورو اسلام د بښمنو غربي هېوادونو د اپلان ډېر خطرناک دی خو د اسې هم نده چې ګيني مخنيوی يې نشي کېدای او ناکامول يې ګيني ناشونی دي؛ د دوئ د دې شومو پلانونو ناکامول ډېر اسان کار دی خو که اسلامي نړۍ کې څوک د اسې غمخور راپيدا شي چې د سعودي، مصر، قطر او اردن په څېر هېوادونه د نورو په چارو کې د لاسوهنې پرېښود وته تيار کړي او ايران دې ته چمتو کړي چې د شام عراق او يمن په روانو ستونزو کې دې مقابل جانب نه جوړېګي بلکې د منځګړيتوب وندې دې اداکړي.

که يادو هېوادونو د وخت حساسيت درک کړ او د دې کارته چمتو شول نو خپل ځانونه او په جنګ کې رابنکېل ټول اسلامي هېوادونه به د دې سترشرنه وژغورل شي ګيني د دې اورلمبې به ډېر ژر د دوئ پولو ته هم ورسېږي بيا به ارمان کوي خو وخت به ځنې تېر وي.

د برتانيې ړومبی وزيرې هم په افغانستان کې شکست ته غاړه کيښوده !!

لطيف . عزم

دکابل شړيدلې اداره په دې ورستيوکې دخپلوبادارانوله لوري په پرلپسې ډول له مايوسيواونااميديوډک اوخورا ترخه خبرونه اوري .

اوباما له سپيني مانۍ څخه دتلوپه شپوورځوکې افغاني عظمت اوداسلامي امارت ايماني قوت ته غاړه کيښوده ،په ځغرده يې ووئيل چې ديوې نيمې لسيزې په ټولو زور ازمويتو سربيره امريکاونتوانيده چې د(طالب) قوت مات اوله خپل دريځ څخه يې يوه لويشت هم پرشا کړي.

دامريکانوي ولسمشر-(ټرمپ) دلوړې په مراسموکې ووئيل: امريکابه دنورو هيوادونو دسرحدونواوپولوپه ځای خپل سرحدونه اوپولې ساتې ، چې ځرګنده اشاره يې دافغانستان اوعراق جګړې ته وه.

اوس دادی په يوه تازه راپورکې دبرتانيې ړومبی وزيرې (ترازمی) ويلي چې نورهغه وخت تيرشوی چې ددیمکراسی دپلي کيدوپه پلمه په نوروهيوادونوتيري وروړو اودافغانستان اوعراق په ځيرناکاموجګړوته لاس واچوو.

نومورې (ډيلي استار) ورځپاڼې ته په خبروکې وئيلي : دافغانستان اوعراق جګړې په هره بيه بايدخاتمه پيداکړي اوله هغو ناکامو اشتباهاتو څخه يې پندواخستل شي ،چې په يادو هيوادونو کې يې تجربه وشوه.

امريکااوبرتانيا دوه هغه هيوادونه و چې په ۲۰۰۱ کال يې دافغانستان اشغال ته مټې بډوهلي اوداټوله نورو غړو څخه په زياته پيمانه يې افغانستان ته پوځيان راوليږل ، دغه راز برتانياهغه هيوادو چې له امريکاورسته يې دنيږدې ۱۶ کلونوپه اوږدوکې ۳۰ مليارده پونډ د افغانستان په جګړه ولګول او۳ زره تنه پوځيان يې مړه اوژوبل شول.

خوداللّٰه تعالی په خاص نصرت اودبرميال ولس دقربانيوپه برکت امريکااوبرتانياچې دواړه ځانونه دنړۍ استعمارچيان بولي اوپه ډيرکبر اوغرور يې دافغانستان لاندې کولوته رادانګلي وو له تاريخي شکست اونااميديوسره مخ شول اويوپه بل پسې يې دغه رونې حقيقت ومانه چې افغانان اواسلامي امارت نه ايليدونکی ځواک اوهيڅکله به ددۍ دغلامی ځنځيرپه غاړه کې وانه چوي .

دکتونکوله نظره دافغانستان په اړه دبرتانيادړومبی وزيرې (ترازمی) ورستی صريح دريځ چې دافغانستان جګړه په هيڅ بيه دتوجيه وړنه بولي اوخاتمه يې غواړي ،داحقيقت په ګوته کوي چې افغانانوپه ځلورم ځل هم انګريزان په ځمکه راپريويستل اودخپلو ننګياليو اسلافو په ځيريې ددې وخت پرنګيان په لوړمتانت اوغرور مات اوافغاني عظمت يې پرې ومانه . (الحمدللّٰه)

امریکا له خپلو غلامانو سره بیا داسې هم کوي !!

خبیر احمدمل

ډونالډ ټرامپ دامریکاد ۴۵ ولسمشرپه توګه خپله لومړۍ اوسوګند دیولړداسې مراسموپه ترڅ کې ترسره کړ، چې دنړۍ اوهیوادونوپه کچه ورته په زړګونوچارواکي اومهم شخصیتونه بلل شوي وو

خودغه مراسم دکابل رژیم دلاسپوڅو واکمنو اودګډوډ رژیم دمتدصدیانولپاره له مایوسیو اونااميديو ډک وو، ځکه دوئ له ټول انتظار اواماد ګیوسره سره دټرمپ له لوري خپلومراسموته ونه غوښتل شول اوداخواران ! يې له خپلوځانوسره همداسې په حیرت اوحسرت کې پریښوول .

امریکاله پنځلسو ډیرکلونه په افغانستان کې خونړی اوله تباهیوډ که جګړه پرمخ یوړه ، نیږدي دوه تریلیونه ډالریې ولګول ، د ۵۰ زرویه شاوخواکې یې پوځیان مړه اوګوډومات شول اوپه هغه سرییره یې دکابل رژیم سره امنیتي ټرون په دې شعارلاسلیک کړ چې له ناټوبهریې کابل رژیم یو مهم متحدهیواد اوزړه ته نیږدي دوست دی

نوله هره اړخه نوموړي رژیم هیله درلوده چې دټرامپ دلوړې پیه مراسموکې به دوئ تربل هرچالوړاوغوړناست وي، ځکه چې اخیرله امریکاسره امنیتي ټرون لري اودنړۍ پرمخ له هرچازیات دامریکادغلامی اومنلوطوق په غاړه کې ګرځوي .

ولې ټرمپ دغه ټول حدود سخت بې اهمیته ، بې ارزښته اودبوسو له بیې هم ټیټ وتلل له هرهیواد څخه یې ګڼ شمیر خلک اوچارواکي خپلې لوړې ته راوبلل خود کابل غلام اوحلقه بګوش رژیم یې سخت هیر اونسیامنسیا وګرځاوه .

دلوړې له مراسمووروسته ټرامپ په یوبل قدم کې هم دکابل اداره پوره وننګوله او دواکمنوپه مخ یې درنه سپیړه ور خیرکړه ، هغه داوه چې نوموړي افغانستان ته فون وکړ کابو ۲۰ دقیقي یې له خپلوپوځیانو سره خبري اوګپي وکړي ، خودګډوډ رژیم مفکر اواجرایه مفشن یې بیاله یاده وویستل دیوې دقیقي لپاره یې هم ورسره مکالمه ونکړه !!!!

دکتونکو له نظره دټرامپ له لوري دکابل له اداري سره دغه مغرورانه اوله تمسخراواستهزاډک چلند په ډاګه کوي چې دنوموړي په سیاست اوراتلونکي تګلاره کې افغانستان څومره ځای اواهمیت لري اوپه خاص ډول دکابل رژیم چارواکوته چې وار له مخکې یې غله اوشوکمار بللي وو په کومه ستر ګه ورته ګوري ؟!!

د اسرائیلو پرضد د امنیت شورۍ نوی طرح
او د امریکا دوه مخی سیاست!

حسن زوی

د ۱۹۶۷م په جنګ کې د فلسطینیانو په غصب شویو ځمکوکې داسرائیلوله لورې دنویو ودانیو دجوړولوپرضدچې څو ورځې دمخه دملګروملتونوپه اداره کې یوه طرحه وړاندې شوه داوباما اداره یې په اړه عملا بې طرفي ښکاره کړه اودتمې خلاف یې داځل ددې طرحې دویتو کولونه ډډه وکړه چې له امله یې داطرحه منظوره شوه .

داسرائیلو لومړي وزیر(بن یامین نتن یاهو) دامریکا ددې کړنلارې په مقابل کې دسختې غصې اظهاروکړ؛ دامریکا نوي منتخب شوي ولسمشر- ټرمپ هم داسرائیلوسره دخواخوږۍ ښکاره کولوپه موخه نه یواځې داچې پراوباما یې انتقادوکړبلکې دجنورۍ د۲۰ مې نېټې نه پس یې دملګروملتونوپه اداره کې داسرائیلوپه اړه د ډېروامورودتبدیلۍ وړاند وینه هم وکړه .

دملګروملتونوپه ۱۹۳غړوهېوادونوکې چې تراوسه دټولونه زیاتې طرحې دکوم هېواد پرضد پدې اداره کې وړاندې شویدي هغه داسرائیلو غاصب هېواد دی .

داسرائیلودوجود نه تر دې مهاله داسرائیلو دظلمونو، وحشتونو اودمسلموقوانینونه دسرغړاوي له امله دملګرو ملتونو دامنیت شورۍ کې ۲۲۶ طرحې وړاندې شویدي چې دګوتوپه شمېر له ځوطرحوپرته یې ټولې امریکا ویټوکړیدي .

داسرائیلوپرضد په امنیت شورۍ کې یواځې هماغه طرحې منظورۍ شویدي دکوموپه اړه چې امریکا خپله بې طرفي ښکاره کړیده ؛ ځان یې بې طرفه پرېښې وي او د، ردیا قبول په اړه یې خپله رایه نه وي ښکاره کړې ؛ مثلاً دلنډن بی جانسن دواکمنۍ په زمانه کې ۷ ؛ دولسمشرنکسن دواک پرمهال ۱۵ ؛ دولسمشر-فورډ په زمانه کې ۲ ؛ دولسمشرکارټر دواک پرمهال۱۴ ؛ دریګن په وخت کې ۲۱ ؛ دمشر-بش دواک پرمهال ۹ ؛ دکلنټن په ولسمشرۍ کې ۳ اودکشر-بش دواکمنۍ پرمهال ۶ طرحې منظورې شوې وې .

داتأثرعام دی چې داوباما دواکمنۍ پرمهال داسرائیلو او امریکا روابط دبل هر وخت په پرتله زیات ترینګلي وو اوترآخره نتن یا هواو اوبامایوبل ته په اخلاص ددوستۍ لاسونه ورنکړل؛ شاید داوباما اودنتن یاهوترمنځ دنه اخلاص دا خبره تریوحده سمه وي خو داخبره هم باید له یاده ونه باسوچې اوبا دامریکا یواځنی هغه ولسمشر- دی چې داسرائیلوسره یې تربل هر ولسمشر- زیات اخلاص ښکاره کړی ؛ دخپلې واکمنۍ په دواړودوروکې یې داسرائیلوپرضد په وړاندې شویوطرحوکې یوه هم منظورېدا ته نه وه پرېښې ؛ بس داوباما درخصتېدونه ایله څلور ورځې وړاندې دامریکا دنه شتون نه په استفادې دامنیت دشوری ۱۴ ارکان دصفرپه مقابل کې ددې طرحې په منظورولوکامیاب شول .

ددې طرحې په متن کې ښه په روښانوتکو داخبره راغلی ده چې د۱۹۶۷م په جنګ کې چې اسرائیلوځومره ځمکه نیولې ده اوپه شرقي بیت المقدس کې یې چې دیهودولپاره ځومره کورونه جوړکړیدي داټول غیرقانوني دي نوباید له منځه ولاړ شي ځکه چې ددوه ازادو دولتونودستونزې دحل په لارکې همدادناقانونه کورونه ډېر لوی خنډ دی.

پدې طرحې دژرعمل تمه نه شي کېدای خودازاد فلسطیني دولت درامنځته کېدو په وړاندې په شتوخنډونوکې شاید لږکموالی راشي.

په ۲۰۱۱م کې هم دامنیت شوری کې داسې طرحه وړاندې شوی وه خوهغه امریکا ویټوکړی وه او ویلی یې ووچې په نوموړوځایونوکې دکورونو د راتلونکي پرېکړه بایدفلسطیني اواسرائیلي مرکچیان په خپلومنځونوکې سره وکړي .

اصل کې داطرحه مصرتیاره کړی وه خودډونلډټرمپ اودنتن یاهودفشار له امله دمصرفوځي مشر جنرال السیسي ددې طرحې دنه وړاندې کولوپرېکړه وکړه ؛ له نېکه مرغه چې دامنیت شوری غیردائمي غړوسینیګال ،یوکرین ،مالیزیا او وینزویلا داطرحه ترلاسه اودجمعې دورځې په غونډې کې یې وړاندې کړه ؛ دامنیت دشوری دځلورودائمي غړو برتانې ،فرانسې ،روسې اوچین په شمول ۱۴ غړو ورنه حمایت ښکاره کړاوداطرحه منظوره شوه .

دامنیت دشوری غړوکومو۱۴ هېوادونوچې ددې طرحې په حق کې رایې ورکړی دي اسرائیلي دولت ددې ۱۴واړو هېوادونوسفیران په تل ابیب کې دباندنیوچارو وزارت ته راوغوښتل او ټولوته یې احتجاج لیکونه ورکړل .

دسینیګال او اوکراین دباندنیوچارو وزیران چې اسرائیلوته په سفر راتلل سفرونه یې لغوه شول .

دامریکاسفیر ډین شپیرو داسرائیلو دلومړي وزیر نتن یاهو دفترته راوغوښتل شو اواحتجاج لیک وروسپارل شو؛ داسرائیلوپه تاریخ کې په لومړي ځل امریکا ته داسې رسمي احتجاج وشو.

داسرائیلودولت یواځې په احتجاج بسیا هم ونکړله بلکې دامریکا پرضد یې ناوړه لهجه هم وکاروله اولومړي وزیرنتن یاهو وویل چې ددې ډرامې ترشا داوباما اودامریکادباندنیوچارو وزیرجان کیري لاس لري.

داسرائیلو دولت دملګروملتونود۵ څانګوسره مرستې هم بندې کړې .

همداطرحه چې ۴کلونه وړاندې امریکا ویټوکړی وه اوس یې په اړه بې طرفی ښکاره کولوپه ښکاره اسرائیل ناراضه کړیدي

دامریکاپه اوسنووولسمشریزوانتخاباتوکې دتمې خلاف دټرمپ دبریالیتوب نه پس د۲۰۱۶کال دنومبرپه ۲۸مې نېټې په نیویارک ټایمز کې دامریکادپخواني ولسمشرجمي کارټر یوه لیکنه خپره شوه چې پکې اوباماته دازادفلسطیني دولت جوړېداته دلاربرابرولواوداسرائیلودظلم دمخنیوي مشوره ورکړل شوی وه ؛ جمي کارټرپه ډېر تاکید ویلي و چې دجنوری په ۲۰مې نېټې چې به ټرمپ دقدرت واګې په لاس کې اخلي نوترې وړاندې باید اوباما داکار خامخا وکړي .

ډېرخلک وایې چې اوباما دجمي کارټر مشوره ځکه ومنله چې په پټوسترګو داسرائیلو دهرڅه نه ملاتړاوباماپه نړۍ کې ډېر بدنام کړی و؛ اوباماداسرائیلو ته د۳۸ بلیونوډالرودورکولوټرون لاسلیک کړیدی ؛ دامریکاپه تاریخ کې کوم دولت کله اسرائیلوته ددومره سترې مرستې اعلان ندی کړی .

اوباما دخپلې واکمنۍ په تېرو۸ کلونوکې د امنیت شوری کې داسرائیلوپرضدپه وړاندې شویوطرحوکې یوه هم منظورېداته نه وه پرېښې ؛ چې په پټوسترګوداسرائیلونه په حمایت سخت بدنام شوی هم ونوپه تلو تلوکې یې ددې بدنامۍ نه دځان خلاصولولپاره دانمایشي کاروکړ.

که په رښتیا وکتل شي نوحقیقت دادی چې د اسرائیلوپرضد دطرحې دوړاندې کېدلوپرمهال چې کله هم امریکاچوپتیا غوره کړیده نوهدف دخپلې بې طرفۍ ښکاره کولواوپه نړۍ کې دخپلې بدنامۍ دراکمولوناکامه هڅه وي .

طبعي ده چې داسرائیلودجبراووحشت نه دډک سیاست په پټوسترګودحمایت او په ټولو ظلمونواووحشتونو باندې یې درضایت له املې امریکاپه نړۍ کې سخته بدنامه اوپه مسلمانانوکې

ډېره زياته منفوره شويده چې پدې دامريکا پوهان هم اعترافونه کوي ؛ نوددې لپاره چې پرضديې نفرت اوبدنامۍ کې کموالی راشي ددې هېوادلوړ پوړي واکمنان کله ناکله داسرائيلو پرضد څرګندونې کوي اوچې داسرائيلو پرضد وړاندې شوې ګنې طرحې ويټوکړي نودیوې ، نيمې په باره کې خپله بې طرفي هم ښکاره کړي چې دامريکا دهمدې بې طرفۍ ښکاره کولوله امله هغه طرحه منظوره شي خونتايج ورباندې بيا ځکه نه مرتب کېږي چې همدا امريکا يې له مختلفولارو دعملي کېدا په وړاندې خنډکېږي اوهيڅ داسې شی وړاندې تللوته نه پرېږدي چې ترې اسرائيلوته دتاوان رسېدلوبوی هم راځي .

ټولې نړۍ ته معلومه ده چې داسرائيلونه بې قيدوشرطه حمايت اودفاع دامريکا نه بدلېدونکی پاليسي ده نوځکه هيڅکله اسرائيلوداسې طرحوڅه پروا نده لرلې اونه يې کله دداسې طرحودمنظورېدا په صورت کې په خپلې کړنلارې کې کوم بدلون راوستی دی ؛ اوس هم همداسې ده اسرائيلوښه په سپين سترګۍ ددې طرحې پرضد دخپلې غصې اظهار وکړ ؛ ددې طرحې دمنظورېدا نه پس يې په لويديځې کنارې کې دنويوکورونو دجوړولوپروګرام ودرولوخوچې کله داسرائيلوسره بې حده زيات خواخوږي لرونکي نوي منتخب شوي ولسمشر ډونلډټرمپ څوګند پورته کړنو داسرائيلولومړي وزير نتن ياهوپه پوره اطمينان اعلان وکړ چې دولت به يې په غربي ټرانګې کې ۵۶۶ نويوکورنوجوړولو پروګرام ته دوام ورکړي .

لويديځه ټرانګه چې دفلسطين ترټولو ګڼ مېشته سيمه ده ؛ دوچې برخه يې ۵۶۴۰ اودسمندر برخه يې ۲۲۰ کيلومتره مربع مساحت لري ؛ دلته ۲ملیونه او۷سوه زره نه زيات فلسطينيان اوتر۴سو زروپورې ناقانونه غاصب اسرائيليان مېشت دي.

په ۱۹۶۷م کال کې دعربواو اسرئيلوترمنځ درامنځته شوي جنګ نه پس دملګروملتونو ادارې کې د۲۴۲مې منظورې شوې طرحې له مخې نه يواځې داچې داسرائيليانولپاره په لويديځه ټرانګه کې جوړ شوي کورونه ناقانونه بلل شويدي بلکې دلته جوړشوي کورونه دفلسطينيانودځمکودغصب په معنی دي .

ددې طرحې دمنظورېدانه چې ترننه اسرائيلوخپل پروګرام ندی ودرولی نوداوسنۍ منظوری شوې طرحې نه پس هم داسرائيلوپه دريځ کې دهيڅ ډول بدلون تمه نشي کېدای اوخصوصاً په اوسنو حالاتوکې چې دمنځنۍ ختيځ اسلامي هېوادونه دخپلمنځي اختلافاتو ؛ دکورنو جنګونو اود ولسونو دپاڅونونو دبحراني حالت سره مخامخ دي اودمنځنۍ ختيځ داسلامي هېوادونودهمدې ضعيف اوګډودحالت نه په استفاده اسرائيلو په لويديځه غاړه کې دفلسطينيانودځمکودقبضې لړۍ

ګړندۍ کړیده اوپرهرلورخپلوسرحداتوته فراخي ورکول غواړي .

داسرائیلـوددې ټولـو شـومو عزایمواوناکـاره ارادوسره دامریکا په شمول د ټولې لویدیځې نړۍ رضـایت اوحمایـت مـل دی اودمسلمانانوپرضـدیې وحشي اعمالوته همدوئ په شا ټپوي .

دبحراســو د سره دفلســطین پــه لګېــدلو کابوټولوسیمواسرائیلوخپله قبضه مضبوطه کړیده ؛ یواځې غزه پـاتې چـې پـرې دقبضـې راوسـتلولپاره اسرائیلوپه ۲۰۰۶م کال کې خونړی یرغل وکړ چې دحماس دسخت مقاومت لـه املـه یـې اسرائیـل پـه نیولوونه توانېدل خوترننـه یـې همـداغزه ترخپلـې محـاصرې لانـدې سـاتلی ده ؛ پـدې خـورا اوږدې اودظلم نه ډکې محاصرې دامریکا په شـمول ټـولې لویدیځې نړۍ سترګې پټـې کړیـدي چـې همـدایې داسرائیلوپـدې وحشي ـ عمـل درضـایت او ورنــه دحمایت روښانه دلیل دی .

اسرائیل داردن ، لبنان،شـام اومصرـسره ګـډې پولې لري ؛ اسرائیل پدې پوهېږي چې اردن اولبنـان داسرائیلوپولوتـه دوسـعت ورکولوپروګرامونوپـه وړانـدې دخنډکېـدلو تـوان نـه لـري او شـام چـې دروان کورني جنګ له املـه ډېر کمزوری شـویدی نوځکــه داسرائیلولــومړي وزیــربن یــامین نــتن یاهودامریکاله ولسمشرنه پـه ۱۰۱۵م کـې غوښـتی وچې په ګـولان دې داسرائیلوپـوره کنـترول ومنـي اوداسرائیلوبشپړ کنترول ته دې لار برابره کړي .

اوس چې نړیوال زبرځواکونـه دشـام دادلـب اوحلـب پـه ځېـر اسرائیلوتـه ځېرمـه سرحـدي سـیموکې مصرـوف دي اوهڅـې کـوي چـې ددې سـیمونه مسـلمانان پـه بشـپړه توګـه ووځـي داسـې ښکاري چې داسرائیلوهمداهیله پوره کول غواړي .

بل لورته دسیناپه دښـته کـې دمصرـلورته هـم اسرائیل لګیـا دي ځمکـې لانـدې کـوي ؛ اسرائـیلي ځېرونکي اوځني سیاسي مشرـان اوس ددې خـبرې اظهارکوي چې اسرائیل خپلـې پـولې دعربـوبحیرې تـه رسـول غـواړي چـې شـاید لـه دې املـه دمصرـ اواسرائیلوترمنځ جنګ هم رامنځته شي .

لنډه داچې دامنیت شـوری کـې ددې طرحـې منظورېدل دفلسطینیانولپاره په سیاسي ډګرکـې یـوه ښه لاسته راوړنه ده خوپدې دکومې نتیجې دمرتـب کېدوتمـه نشي ـ کېـدای ځکـه چـې دخپلـو شـومو عزایمونه داسرائیلو اړول څه اسان کارندی ؛ دالوی فشـــارغواړي ؛ اوچـــې امریکـــا وي نوځـــوک پراسرائیلوکـوچنی فشـار نشي ـ راوړلـی نودلـوی فشارتمه به څه وشي؟

عزل ونصب مسؤلین امارت اسلامی
وتبلیغات ناکام دشمن!

سعید بدخشانی

تغیردرساختار نظام وتبدیلی اراکین،اشخاص کلیدی،مامورین بلند پایه وپاین رتبه در هر نظام به ویژه در نظام های اسلامی یک امرمعمول وعادی است که زعیم ورهبر بغرض بهبود بخشیدن نظم اداری وفراهم سازی مصالح علیاء اسلامی وملی به آن می پردازد.

سیدنا عمربن الخطاب رضی الله عنه سیف الله المسلول خالدبن الولید رضی عنه را از سرلشکری معزول ساخت، این واقعه خیلی ها حیرت انگیز است که سپه سالاری عظیم الشان مانند خالد که در تاریخ اسلام نظیر ندارد وتیغ برانش قسمت عراق وشام را تصفیه کرده باز هم عزل می شود وحرفی نمی زند.

این از یک طرف پاک طینتی وحق پرستی خالد رضی الله عنه را ظاهر می سازد واز سوی دیگر قدرت وجلال فاروق اعظم را نشان می دهد.

امیرالمؤمنین،حضرت خالد را خطاب نموده فرمود:ای خالد!والله من تو را دوست دارم وعزت تو را بدل دارم.سپس به تمام عمال تحت خلافت خود نوشت که :من خالد را از سبب خیانتی یا رنجشی عزل نکرده ام ولی دیدم که مردم شفته وشیدای او شده می روند،پس مصلحت در این دیدم که او را معزول کنم تا مردم بدانند که فتوحات اسلام فقط از سبب تیغ خالد نیست بلکه هرچه می کند خدا می کند.

بناءً امارت اسلامی افغانستان یکی از نظام های اسلامی با ابتکار ومقتدیر دور خود در سطح منقطه وجهان میباشد که نقش قدم اسلاف وخلافت های اسلامی را تعقیب،وبا در نظر داشت وضعیت نظامی وسیاسی در

صفوف وتشکیلات مجاهدین تغیراتی را به میان می آورد.

باید گفت که:عزل ونصب در امارت اسلامی یک امرمعمولی وعادی میباشد، امیر المؤمنین فقید ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله در زمان حاکمیت خود،به یک فرمان در تمام سطوح تغیرات می اورد،وزیر را رئیس ورئیس را وزیر،افسر را عسکر وعسکر را افسر- می ساخت،حتی بعد از تجاوز آمریکا بحریم کشور،در وضعیت جنگی وبسیار حساس، برخی از مسؤلین نظامی را برکنار وبعضی ها را مقرر می کرد،باز هم در نظام امارت اسلامی کدام نوع اختلافات وبی باوری رخ نداد.

بلی!شایسته سالاری در دین مبین اسلام مذموم نه بلکه لازم است،امیر مسلمان ها با درنظر گرفتن اصل شایسته سالاری افراد اهل خبره،صادق،عادل، متقی، ماهر، مدبیر ومتعهد براصول اسلامی را بر مناصب دولتی انتخاب نماید تا باشد که اشخاص موصوف الذکر باعث تقویه وگسترش بیشتر نظام اسلامی،رفا وآسایش ملت وسبب امحای فساد،سرقت، بداخلاقی،تعصب،قوم گرای ودین ستیزی شوند.

من به یاد دارم هنگامیکه خبر رحلت عالیقدر امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله از سوی سخنگویان امارت اسلامی رسماً تأیید شد،دشمنان خارجی وداخلی به دسایس وتبلیغات زهراگینی پرداختند که دیگر طالبان به دور یک امیر جمع نخواهند شد،بلکه به شاخه های مختلفی تقسیم خواهند شد،دیری نگذشت که بشمول اعضاء شورای رهبری تمامی والیان،کمیسیون ها،دلگی مشران،مجاهدین وعام مسلمانان با زعیم جدید ملا اخترمحمد منصور شهید رحمه الله بیعت خویش را اعلام وتحت قیادت مدبیرانهء شان به مبارزات خود ادامه دادند که در میادین نظامی وسیاسی بدست آورد های چشمگیر وقابل ملاحظه ای نائیل آمدند.

بعد از آنکه امیرالمؤمنین شجاع وتوانا منصور صاحب از سوی استکبار جهانی

(آمریکا)بشهادت رسید،دیری نگذشته بود که تهاجم تبلیغاتی از طرف کفار ورژیم دست نشانده کابل بخاطر چند دسته نشان دادن مجاهدین آغاز گردید، اما عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله آخندزاده (حفظه الله) با کمال فراست ودرایت که داشت با مشت آهنین وکوبنده خویش بردهان دشمنان اسلام وغلامان حلقه بگوش کوبید وبا بسیار مهارت تام صفوف مجاهدین را هرچه متحد ومنظم تر ساخت،که اعتراف فرعون وقت(اوباما)بشکست در برابر طالبان،فتح ده ها واحد اداری وبیش از پنجاه فیصد خاک کشور را می توان از دست آورد های شان تلقی نمود.

با وجود اینکه شبکه های استخباراتی شرق وغرب جهت فروپاشی صف واحد ومستحکم امارت اسلامی دست به کار هستند ودر این راستا از هیچ نوع تلاشی دریغ نه ورزیدند،وهمه روزه تکاپو می ورزند که در بین مجاهدین درز ایجاد کنند وآنها را به گروه های مختلف تقسیم نمایند،همواره میگویند که درسطح رهبری طالبان اختلافات عمیق وجود دارد،برخی از سران مجاهدین امیرالمؤمنین هبت الله آخندزاده حفظه الله را به عنوان امیر خود نمی پذیرند،از امر وی سر پیچی می کنند وهمانند آن...

اما جالب اینست، رهبری که بگمان دشمن بخش از مجاهدین وی را به عنوان زعیم وامیر خویش قبول ندارند چطور میتواند که به یکبار شانزده والی را سبک دوش کند؟آیا اختلافات ایجاب می کند که ۱۶تن از مسؤلین بلند رتبه برکنار شوند، خدای نخواسته مخالفت هم وجود داشته باشد بازهم خاموش بمانند.

من متیقینم هستم که این شایعات بجز از رسوای بیشتر رسانه های غربی واداره مسلوب الاختیار کابل دیگر چیزی را ببار نخواهد آورد.

در اخیر یاد آور می شوم که اینهمه تغیرات گسترده وبدون مناقشه،بیانگر پاک طینتی مسؤلین،مجاهدین وکمال سلطه وتوانای عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ الحدیث هبت الله آخندزاد(حفظه الله)میباشد.

دجهـاد فقهي مسـائل

مفتي ابومحمدحقاني
(۳۵برخـــه)

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اســلام منل، جــزیه ورکول، یا ســوله!

دسولې دتړون دنقض اسباب !

دویــم ســبب :هغــه دی چــې پــه پټــه (باطن)کې مقابل لوری یا معاهد خیانت وکړي ،یعنې په ظاهره خو دسولې خبرې جاري ساتي او دې معاهدې ته دوفاداری لاپې شاپې وي ،خو داخل یا خفا کې بیا پکې خیانت کوي او دموادو نقض یې راځي .

تفصیل :دسولې له موجباتو نـه داده، چـې مقابل لوری به خیانت پریږدي ،پدې معنـی چـې هغه خیانت به هم نکوي، چې که چیرته راڅرګند شي او خلک پـرې خـبر شي، نـو دسـولې دتـړون دنقض سبب ګرځي ،لکه په خفا یا پټه دښمن تـه میلان او ورسره مخفې اړیکې ،یا په پټه دوئ کـوم مسلمان شهید کړي ،یاپې مال ا و پیسې واخلـې او یاهم دکومې مسـلمانې سره زنـا وکـړي ،داهغـه مسـئله ده، چـې شـوافعواو حنابلـه حضراتو پـرې صراحت کړي او ددوئ دې کتابونوکې یې رانقـل راغلـی: (الحـاوي ۱۸ / ٤٤٣ ، وروضـة الطـالبين ۱۰ / ۳۳۷ ، ومطالــب أولي النهــی ۲ / ۵۸۹ ، ٦٢٢ ، ٦٢٣ .) .

البتـه داحنـافو مـذهب بیـا دحنابلـه وو او شـوافعورح لـه مـذهب سره څـه تفاوتونـه لـري او هغه داسـې :چـې لکـه څنګـه چـې (حاشـية ابـن عابــدين ۳ / ۲٤۹ .)کــې لــیکلي : داحنــافو دعلـماوورح ددې مسـئلې پـه بـاب صراحـت څـه داسې دی، چې که چیرته مهادن ،معاهد(سـوله کړی شوی)کس کفارو ته دمسلمانانوجاسـوسي وکــړه او دمســلمانانوپټ اسراریــې دمســلمانانو دښمنانو تـه ورسـول،یاپې یـا بالجبرلـه مسـلمانې ښځمنې یا ذمې سره زنا وکړه اویاپې غلاوکړه ،نـو پدې سره دسولې عقد یـا تـړون نـه مـاتیږي، لکـه

په(الموسوعة الفقهية الكويتية) کې داسې ليکي : وَصَرَّحَ الْحَنَفِيَّةُ بِأَنَّ الْمُهَادِنَ لَوْ تَجَسَّسَ أَخْبَارَ الْمُسْلِمِينَ فَبَعَثَ بِهَا إِلَى عَدُوٍّ الْمُسْلِمِينَ أَوْ زَنَى بِمُسْلِمَةٍ أَوْ ذِمِّيَّةٍ كَرْهًا أَوْ سَرَقَ لا يُنْتَقَضُ عَهْدُهُ...)

په (الموسوعة الفقهية) کې ليکي چې کله دمسلمانانو امام يا پاچاخبر شواو داسې نښې نښانې يې ومونډلې چې هغې نه دمعاهدينو خيانت څرګندیده ،نوداحنافو رح ،شوافعورح او حنابله وو رح په صحيح قول کې امام ته جايز ده، چې ورسره دسولې ترون نقض کړي او ورته ددې معاهدې دنقض اطلاع ورکړي ترڅو هغوئ ځانونه خپلو مصؤنو ځايونوته ورسوي ،ددې لپاره دليل دا آيت کريمه دی، چې الله تعالى فرمايي : { وَإِمَّا تَخَافَنَّ مِنْ قَوْمٍ خِيَانَةً فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ } سورة الأنفال / ٥٨ ./

. يعنې چې کله ته ددوئ دغدر ،خدع او په مسلمانانوله ايقاع نه ويريدلې او داکارونه يې پټ کول ،نښکاره يې دمعاهدې نقض نه کاوه ،نوهغه عهد او سوله چې ستااوهغوئ ترمينځ ده، ورسره يې لغوه او نبذ يې کړه ،ددې لپاره چې ټول سره ددې په معرفت کې مساوي شي ،اودامعنى ددې قول دالله تعالى ده، چې (على سواء)دادې لپاره چې دوئ ددې توهم ونکړي، چې تاددوئ سره دمعاهدې نقض دجنګ او حرب په نيت او انتصاب کړی (أحكام القرآن للجصاص ٣ / ٦٧ ، وعمدة القارئ ١٥ / ١٠٠ ـ ١٠١ ، والدسوقي ٢ / ٢٠٦ ، وروضة الطالبين ١٠ / ٣٣٨ ، ومطالب أولي النهى ٢ / ٥٩٠ .)

مالکيان حضرات رح فرمايي : چې په امام واجب ده ،چې دعهدشکنی او انذار خبر ورکړي،که چيرته يې خيانت متحقق شو،نو بيا به دمعاهدې دنقض اطلاع له انذار پرته ورکوي .

علامه ابن العربی په أحكام القرآن لابن العربي ٢ / ٨٦٠ ـ ٨٦١ ، اوحاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٦ .)کې وايې: چې کله دمعاهدينو خيانت نښکاره شو،نو نبذالعهد ورسره واجب دی ،چې امتدادبه هلاکت کې وقوع رامينځته کړي او دلته په ظن سره ديقين اسقاط روا دی .

له شوافعو رح نه (شيخ ابوحامد) فرمايي: چې له اهل ذمه ووسره نقض العهدپه مجرد خيانت سره روادی، پدې کې دامام اجازې ته ضرورت نشته او دشوافعو رح نه داسې روايت هم شته، چې په مجرد تهمت نقض العهد نشي- کولای ، لکه په روضة الطالبين کې داسې ليکي : وَحُكِيَ قَوْلٌ عِنْدَ الشَّافِعِيَّةِ أَنَّهُ لا يَنْبِذُ عَقْدَ الْهُدْنَةِ كَمَا لا يَنْبِذُ عَقْدَ الذِّمَّةِ بِالتُّهْمَةِ (روضة الطالبين ١٠ / ٣٣٨ .)

نوربيا.....

د اسلام غزوات او سرايا

دخندق و احزاب غزاه:

وروستی برخه
ابوظهير

دوه اوونۍ تيرې شوې د لاس په لاس جنګ نوبت رانغی ، له دواړو خواوو نه په يوبل غشي- ويشتل کېدل،آخر دقريشو څو تنه سپاره [عمروبن عبدود،عکرمة بن ابي جهل، هبيرة بن ابی وهب، ضراربن خطاب، نوفل بن عبد الله] مسلمانانو سره لاس په لاس جګړې ته را ووتل هغوی چې دخندق ترغاړې راغلل پخپلو منځو کې سره و ويل:

سوګندپه خدای! دا مکر وفريب پخوا په عربو کې نه و.

په يوځای کې چې دخندق پلنوالی(عرض) کم و، د هغه نه په توپ کولو دمسلمانانو لورته پورپوتل عمروبن عبدود دبدر په جنګ زخمي شوی و ،داځل يې ځان له سره ترپښو په زغرو کې پوښلی و، ترنورو رومبی شو اواز يې وکړ: هَل مِن مُبَارِزٍ؟

شته څوک چې مقابلې ته را شي؟ علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ور ووت ور ته يې وويل:

ياعمرو! زه تا ته دالله او دهغه درسول صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او اسلام لورته دراتلو بلنه درکوم.

عمرو وويل:

زه ورته اړتيا نلرم، علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل: ښه راځه زه دمقابلې بلنه درکوم ، عمرو وويل:

ته کشر يې (زرقاني وايي: دغه مهال دعمربن عبدود عمر نوي له کلو زيات و) کوم مشر سړی را وباسه، ستاوژل نه خوښوم! علي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل: زه خو ستا وژل خوښوم!

په اوريدو يې عمروبن عبدود غوسه شو له اس را ښکته شو مخکې راغی په علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ يې حمله وکړه ، علی رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د په ډال (سپر) دهغه

حمله ونيوه ليکن په تندي تپي شو ، ژر يې ځان ځوابې حملې ته جوړ کړاو په يو تندريز وار يې نور دعمروبن عبدود دژوند کېسه تمامه کړه ، دالله اکبر نارې په اوريدو مسلمانانو وفهمولـه چې الله تعالى دوى ته فتحه ور کړه.

نوفل بن عبد الله درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دقتل په اراده واړاندې راغى، غوښتل يې له خندق پورې توپ کړي خو خندق ته پريوت چې له املـه يې ورميږ مات او و و مړ، مشرکانو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تـه ددیت پـه توګـه لـس زره درهـم راوړل ځو دهغـه (نوفـل بـن عبـد الله) مړى ورکړي رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

څنګه چې هغه(نوفل بـن عبـد الله) خبيـث او ناپاک دى ، همداسې يې ديت خبيث او ناپاک دى او دالله تعالى لعنت دې په ده او دده په ديت وي ؛ مـونږ ته نه لس زره درهم پکاردي او نه يې لاش...

د عوض اخستو پرته يې لاش قريشو تـه دلاش وړلو اجازه وکړه (زرقاني ۲۰تـوک ۱۱۴مخ)

دسـعد بـن معـاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ پـه شـه رګ غشـى ولګيد، نوموړي (رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ) پـه هـم هغـه شـيبه کـې دعـاء وکـړه يـا الله! کـه د قريشـو سره روان جنـګ اوږدوي نو ماته ددينه زيات بل څه زيـات خـوښ ندي چې له هغه قـوم سره جهـاد وکـړم چـا چـې سـتا رسول ته اذيتونه ورکړي او هغه يې دروغجن ګڼلـى اوله حرم نه يې ويستلى او يا الله! که ته زمونږ او د دوى(قريشو) ترمنځ روان جنک پاى ته رسـوي بيـا همدا زخـم زمـا دشـهادت زريعـه وګرځـوه او ترهغـه وخته ماته مرګ مه راوله څو دښو قريظه وو په ذلت او رسوايۍ مـې سـترګې يخـې شـوې نـه وې. (ابـن هشام۲تـوک ۱۴۳مخ)

دحملې دا ورځ ډېره سخته وه، ټوله ورځ غشي- او کـانې وريـدل، پـه همـدې ورځ لـه رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه څلور لمونځونه قضاء شول

څنګـه چـې وړانـدې تيـر شـول رسـول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمسـلمانانو ميرمنـې او ماشـومان پـه يـوه کـلا کـې يوځـاى خونـدي کـړي وو، داچـې ديهودانو کلي هغه ځاى ته نيږدي وو، حضرت صفيه رض درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ترور به تل ويښـه او بيداره وه ، دکلا ساتونکي حضرت حسان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ و، صفيې رضى الله عنها و ليدل چې يـو يهـودي سـړى دهغې کلا په شاوخوا کې ګرځـي، ور سره اندينښـنه پيداشوه چې هسې نه جاسـوس وي؛ حضرت حسـان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته يې وويل: داسـړى قتـل کـړه! هسـې نـه دښمن ته زمونږ خبر ور وړي.

حسان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل: ايا تاتـه نـده معلومـه زه ددې کار نه يم

صفيې رضى الله عنهـا دخيمـې لرګـي تـه لاس کړ او لاړه دهغه يهودي سر يـې دومـره پـه زور سره

وواهه چې وچاوديده او مړشو بيا يې حسان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وويل: دا نارينه دی او زه ښځه يم، په دې لاس نشم ورورلی ته! ورځخه وسله خلاصه کړه!

حسان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وويل: ماته دوسلې او سامان ضرورت نشته (ابن هشام)

دمحاصرې په شيبو کې نعيم بن مسعود اشجعي څوک چې دغطفان قبيلې سردارو راغی رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې عرض وکړ:

يار سول الله !صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ما په تا ايمان راوړی ، خو زما قوم ته ددي (اسلام راوړو) علم نشته که ستا خوښه وي زه به يو تدبير وکړم څو کلابندې پای ته ورسي

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

هو! ته يو تجربه کار سړی يې ، که ممکن وي تدبيرو کړه!

فَإن الحرب خِدعة

ژ: څکه جنګ دحيلې او تدبير نوم دی.

نعيم بن مسعود اشجعي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دا تدبير وکړ چې دقريشو او بنو قريظه ترمنځ يې درزواچاوه او بنو قريظه دقريشو سره له کومک څخه وروسته شول (تفصيل فتح الباري ۷ټوک ۳۰۹مخ، دطبري تاريخ ۳ټوک ۵۰مخ کې شته)

بل لورته دعمروبن عبدود او نوفل دقتل وروسته دقريشو پاتې سپاره په شا وتښتيدل ، په مسند احمد کې دابوسعيد خدري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روايت دی:

مونږ دمحاصرې دشدت او سختی له املـه رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته شکايت وکړ او تري دعا مو و غوښته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل:

اَللّٰهُمَ استُرعَوراتِنا وَأمِن رَوعَاتِنا

ژ:الله! زمونږ عيوب پټ کړي او مونږ نه ډارلري کړه!

په بخاري شريف کې دا دعاء راغلې:

اَللّٰهُمَ مُنزِلَ الكِتابِ وَ مُجرِيَ السَّحَابِ وَهَازِمَ الاَحزَابِ اِهزِمهُم وَانصُرنَا عَلَيهِم (صحيح بخاري ، كتاب الجهاد لاتمنوا لقاء العدو)

الله تعالی درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دعاء قبوله کړه په قريشو او غطفان باندې سخته سيلې را والوته په سبب يې دهغوی خيمې پريوتې ،رسۍ او طنابونه يې وشليدل ، دخوراک ديګونه يې بل مخ چاپه شول، سترګې يې له ګردو او دوړ ډکې شوې په دې سره دکفارو ټول لښکر ورخطاء او وډارشو.

الله پاک فرمايي:

يَاأَيُّهَا الَّذِين امَنُوا اذكُروا نعمَة الله عَلَيكُم اِذجَاءَتكُم جُنُودٌ فَاَرسَلنَا عَلَيهِم رِيحاً وَّ جُنُودًا لَم تَرَوهَا وَكَان اللهُ بِمَا تَعلَمُونَ بَصِيرَا (احزاب۹ ايت)

ژ: دايمان څښتنانو يادکړئ هغه انعام کوم چې په تاسو هغه مهال وشو چې کله دکافرانو ډېر لوی لښکر ستاسو ترسرونو پورې ورسيد بيا هغه وخت مونږ ستاسو په دښمنانو باندې يوه سيلۍ را ولېږله او ستاسو دمرستې لپاره مو داسمان څخه داسې لښکر را کوز کړ چې تاسو نه ليدلو، يعنې فرښتې او الله تعالی ستاسې داعمالو ښه ليدونکی دی.

د [جنودا لم تروها] نه مرادفرښتې دي کومو چې دکافرانو زړونه مرعوب کړل او دمسلمانانو زړونه يې قوي کړل په دې سره دکافرانو لس زره کسيز لښکر تيت پرک او وتښتيده.

لکه الله تعالی فرمايي:

وَردَّ اللهُ الَّذِينَ كَفَرُوا بِغَيظِهِم لَم يَنَالُوا خَيرا وكَفَى اللَّهُ الْمُؤمِنِين القِتَالَ وَكَانَ اللَّهُ قَوِيًّا عَزِيزا(احزاب ۲۵ايت)

ژ: او الله تعالی کافران سره دخپل تول قهر او غوسې په شاکړل او دزړې برابر کاميابې يې هم ترلاسه نکړه او الله تعالی دمومنانو لخوا په جنګ کې کفايت وکړ او الله تعالی ډېر ځواکمن او غالب دی.

حذيفه بن اليمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت کوي : ماته رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حکم وکړ : حذيفه لاړشه! دقريشو خبر راوړه، ما عرض وکړ هسې نه په لاس ورشم، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: اِنَّکَ لَن تُؤسر.

بيشکه ته به اسيرنشي.

بيا يې ماته دا دعا وکړه:

اَللَّهُمَ احفَظهُ بَينَ يَديهِ وَمِن خَلفِهِ وعَن يَمِينِهِ وعَن شِمَالِهِ وَ مِن فَوقِهِ وَمِن تَحتِهِ

ژ: الله! له مخکې ، وروسته،ښې،چپ، بره او لاندې نه يې ته ساتنه وکړي.

درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په دې دعاء سره زما نه ټول ډار لرې شو او په ډېره خوشالۍ او خوښۍ روان شوم کله چې روان شوم ماته يې وفرمايل:

حذيفه! هيڅ نوې خبره ونکړې.

دهغوی لښکر ته ورسيدم ، سېلۍ ټبزه وه، هيڅ شی ورته تم کېدای نشو، او تياره هم دومره خوره وه چې کوم څېز ليدل کېده نه ، په دې کې مې دابوسفيان غږ واريده هغه وويل:

اې قريشو! دا د نورتم کيدو ځای ندی ،زمونږ څاروي مړه شول ، بنو قريظه را نه په شاه شول او دې سېلۍ مو هرڅه دومره ګډوډ کړل چې تګ،

راتگ ، ناسته او ولاړه پکې سخته شوې، غوره دا ده چې سملاسې بيرته روان شئ

دايي وويل ابوسفيان په اوښه سپورشو.

حذيفه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وايي:

هغه مهال زړه کې مې راغلل چې په غشي يې وولم، خو درسو ل الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ارشاد راپه زړه شو: چې حذيفه! نوې خبره ونکړې.

همداسې بيرته راستون شوم(زرقاني ۲ټوک ۱۱۸مخ)

قريش وتښتيدل رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل: الآن نَغزُو هُم وَلايَغزُو نَنَا نَحنُ نَسِيرُ اِلَيهِم(بخاری).

ژ: نور به مونږ په دوی حملې کوو ، او دوی(کافران) په مونږ حملې نشې کولی. او مونږ به په دوی باندې دحملو لپاره ورځو.

يعنې کفر دومره کمزوری شوی چې نور دومره ځواک نلري چې داسلام په مقابل کې کوم گام پورته کړي او اسلام يواځې خپله دفاع کوي بلکې برعکس اوس اسلام دومره قوي شوی دی چې په کافرانو باندې تهجمي حملې کوي

خَيرنه:

کوم خلک چې په اسلام کې داقدامي جهاد څخه منکردي هغوی دي دبخاري شريف دغه روايت ښه په غور سره ولولي.

او کله چې سهار شو رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مديني ته ستون شو او په ژبه مبارکه يې دا کلمات و:

لاَ اِلّا الله وحدهُ لَا شَرِيکَ لَهُ لَهُ المُلکُ وَ لَهُ الحَمدُ وهُو علی کُلِّ شئٍ قَدِير،آئبوُن، تائبون، عَابدون ،ساجدون لربنا، حَامدون صَدق الله وعدَه ونَصَر عَبدَه وهَزم الاَحزاب وحده (بخاري)

ابن سعد او بلاذری وايي:محاصره پېنځلس ورځې وه، واقدي وايي: داقول راجح دی، سعيد بن مسيب وايي: ۲۴ ورځې وه په دې غزا کې دمشرکانو څخه درې تنه قتل شول:

۱ـ نوفل بن عبد الله ۲ـ عمروبن عبدود ۳ـ منية بن عبيد.

او شپږ تنه مسلمانان شهيدان شول:

سعد بن معاذ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ۲- انس بن اويس رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ۳- عبد الله بن سهل رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ۴- طفيل بن نعمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ۵- ثعلبة بن عنمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ٦ کعب بن زيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

حافظ دمياطي دوه نور نومونه هم راوړي دي:

۷- قيس بن زيد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ۸- عبد الله بن ابی خالد رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ

پای.....

د امارت پیغامونه

هلمند ته د ۳۰۰ نورو امریکایي ځواکونو د را استولو په اړه د اسلامي امارت د ویاند څرګندونې

تیره ورځ امریکایي نظامي قومندانانو اعلان وکړ چې په راتلونکي پسرلي کې به هلمند ولایت ته له خپلو غلامانو سره د مرستې لپاره ۳۰۰ امریکایي عسکر واستوئ.

دا اعلان په داسې حال کې کیږي چې په تیر دوبي کې هم ۱۰۰ تنه امریکایي خاص ځواکونه د هلمند د مرکز لښکرګاه د دفاع لپاره را واستول شول چې له درنو تلفاتو وروسته ډیر ژر په هلمند کې د باسټن په نامه نظامي کمپ ته وتښتیدل.

په عین وخت کې د معلوماتو په اساس امریکایي نظامي کړیو د عامو امریکایانو څخه په پټه توګه اوس هم د کیمپ ډایر («Camp Dwyer») په نامه یو مهم مرکز د هلمند د ګرمسیرولسوالۍ په مربوطاتو کې ساتلی دي چې سلګونه امریکایي ځانګړي ځواکونه په کې میشت دي.

برسیره پر دې د هلمند په شوراوکې هم په باسټن کمپ کې سلګونه اشغالګر عسکر اوسیږي.

له پورته تعداد امریکایي عسکرو سره سره نور امریکایي ځواکونه هلمند ته را لیږل او بیا یې اعلانونه کول صرف د دې لپاره دي چې د کابل اداري غلامو او شکست خورده عسکروته تر پسرلي پورې روحیه ورکړي او پښه یې ټینګه کړي.

خو څرنګه چې د اسلامي امارت سرسپارلو مجاهدینو دلسهاوو زره امریکایي او نورو اشغالګرو ځواکونو په شتون کې خپل پرمختګونه جاري وساتل د څو سوو نورو عسکرو شتون یې هم د پرمختګ پرمخ کې نشي خنډ کیدلی.

خو که امریکایي عسکر له خپلو خوندي غارو او بیسونو څخه د جګړې میدان ته راووزی نو په مخامخ جګړه کې به صدمه وویني او د غلامانو پرځای به دوی ووژل شي.

داسې کړنې د اوباما وروستۍ ناکامه هڅې دي چې نه به لکه تیر غوندې کومه نتیجه ترلاسه کړي او نه به هم په امریکا کې دننه او په نړیواله سطحه خپل شکست جبیره کړای شي. ان شاءالله

قاري محمد یوسف احمدي د اسلامي امارت ویاند

۹/۴/۱۴۳۸هـ ق ۱۸/۱۰/۱۳۹۵هـ ش ـ ۷/۱/۲۰۱۷م

د موالاة (د کافرانو دوستي)
تعـريف او شرعـي حکـم يې

قاري سعيد خوستی

د کـافرانو سره تعامـل درې حالته لري :

(۱) لـومړی حالـت يـې کفر او د اسلام له ملت څخه ايستونکی دی ،چې په علمي ژبـه ورتـه تَـوَلِّيْ ويلـی شي. چـې همـدا حالـت مقصـد پـه دې ايـــت سره دی. (ومـــن يتـولهم مـنكم فانـه مـنهم) ـ {المائـدة ايـت۵۱} چا چې لـه تاســې د دوی سره دوســتي وکړه، لـه دوی څخـه دی. او مقصد دی پـه دې ايت سره (إنما ينهاكم الله عـــن الذين قاتلوكـــــــم في الدين وأخرجوكم من ديـــــاركم وظاهروا على إخراجـــكم أن تولوهم ومن يتولهم فأولئك هم الظالمون){المتحنه ايت ۹} بيشکه الله تعالی تاسې د هغـه خلکـو لـه دوستۍ منعه کوي، چې ستاسې سره د دين پـه سر جګړه کـوي، تاســې يې له خپلو کورونو ايستلي يی، له نورو سرکشه کافرانو سره يـې ستاسـې په ايستلو کې مرسته کړې. چا چې لـه تاسې څخـه د دوی سره دوسـتي وکړه هغه د ظالمانو له ټولي څخه دی.

(۲)دويم حالت يې حرام، ناروا دی ،خو کفر نـه دی، چـې پـه علمـي ژبه ورته مـوالاة ويلـی شي. د کـافرانو سره داسـې دوسـتي چـې د دوی د دين سره د محبت له امله نـه وي، دا دوسـتي د بـل مسلمان پـه ضرر نـه وي، بلکې د دنيوي مفادو لپاره وي، موالاة بلل کيږي.

(۳) دريـم حالـت يـې مبـاح او روا دی. د هغـه کـافرانو سره چـې د مسلمانانو په وړاندې نه جنګيږي، د تړونونو لاندې کافرانو سره، د ذميـانو سره، د خپلو اقاربو غيرمحـاربو کـافرانو سره دوسـتي روا ده. او دا مقصـد په دې ايت سره دی.

(لا ينهاكم الله عن الذين لم يقاتلوكم في الدين ولم يخرجوكم من دياركم أن تبروهم وتقسطوا إليهم إن الله يحب المقسطين) {المتحنـــه ايۀ۸}

ژباړه: الله تعالی تاسې د هغه کافرانو سره له نيکۍ کولو او عـدل نـه منعه کوي چې له تاسې سره يې د دين په سر جګړه نه وي کړي، تاسې

يـــې لـــه کورونـــو نـــه وی ايستلي. الله تعالی منځلاري او عدل کونکي خوښوي.

د لومړي او دويم حالت تـر مينځ تـوپير دا دی، چې کله د کافر سره دوستي د ده د ديـــن لـــه املـــه وي، دا دوستي د بل مسلمان د ځپلو لپـاره وي، دا حالـت د تَـوَلِّيْ دی چې سبب د کفـر دی. د دويم او دريم حالت تر مينځ تـوپير امـام قـرافي داسـې کړی:

په ځينـې ايتونـو کـې د کـافرانو سره دوسـتي منـع شـوي پـه ځينـو کـې بيـا د کـافرانو سره د عـدل او نيـک سلوک امر شـوی خـو د تولـو تر مينځ جمعه دا ده چې هغه کافران چې زموږ په ذمه کـې دي يـا غيرمحـارب ځپلـوان کافران او ټول هغـه کـافران چـې د اسـلامي امير د حکـم لانـدې ژونـد تيـرول غـواړي، ورسره ښه سلوک روا دی خو هغـه کـافران چـې پـه دې شروطـو نـه وی خـو ورسره دوستي د مسلمانانو د ضرر سبب نه کيږي، ناروا او حرام دی.

(الفروق للقرافي ج۳ص۱۴)

افغانسـتان تـه د اشـغالګرانو د راتـګ سره هـم مهالـه دوی ځينـې د بلعم بن باعورا په منصب ناست تش په نوم عالمان د دې لپاره وګومـارل، تـر څـو پـرې اسـلامي مفـاهيم تحريـف کـړي. د کـافرانو سره د دوسـتی مفهوم هم ځينو کرايه شويو تحريـف کـړ او پـه افغانسـتان کـې د داخـلي ګوډاګيانو په مرسته سَرَه انګريزان د افغانانو کورونو ته اړول يې مـوالاة او هغه حالت معرفي کړی چې يا خو اصـلا روا دی يـا حـرام دی خـو کفـر نـه دی.

خو دا ناخبره د تَوَلِّيْ او مُوالاة تر مينځ علمی تفاوت هم نه پيژني.

بايد ووايو چې د تَوَلِّيْ او مـوالاة تـر مينځ معيـار يـواځې د کـافرانو د ديـن سره محبـت نـه دی، لکـه ځينـې خلـک د افغانـانو د امريکايـانو سره تعـاون د مـوالاة لـه ډلـې بـولي او وايـي چـې دلتـه افغانـان د کـافرانو سره يواځې د پيسو په بدل کې تعاون کوي حال دا چې هلتـه د مـولاة او تَـوَلِّيْ تر مينځ د مسلمانانو له ځپلو کورونو شړل يا د دوی پـه شـړلو کـې مرسـته يادە شوې.

نو چې د هغه چا دوسـتي هم تَوَلِّيْ او کفر دی چې د کافر سره يـې د مسلمان په شـړلو کـې مرسـته کـړې، دا عسـکر، پـوليس او اردو والـه بـه ځنګه نه وی کافر چې د دې مسلمان په شړلو نيولو، وژلـو، شـکنجه کولـو کې تر کافر مخکې دي؟

الله تعالی د تَوَلِّيْ په هکله داسې فرمايي: إنما ينهاكم الله عن الذين قاتلوكم في الدين وأخرجوكم من دياركم وظاهـــــروا على إخراجكم أن تولوهم ومن يتولهم فأولئك هم الظالمون{الممتحنه ايت ۹.}

له احنافو څخه امام جصاص په احکام القران کـې، امـام نسـفي پـه مدارک التنزيل کې، امام ابوالسعود په تفسـير ابوالسـعود کـې د يهـودو او نصاراوو سره دوسـتي کونکي د دوي له ډلې بللي چـې د تَـولی دا ډول کفـر

او مخرج له ملت څخه دی. (احکام القران للجصاص ج۲ص۱۲/ مدارک التنزیل تفسیر النسفي ج۱ص۴۵۳/ تفسیر ابوالسعود ج۳ص۴۸)

امام قرطبي لیکي: یعنې څوګ چې له کافرانو سره دوستي کوي هغه له دوي څخه دی. حکم یې د دوی دی. چې له دې سره ثابته شوه چې له مرتد څخه مسلمان میراث نه شي وړلی. (تفسیر القرطبي ج٦ص۲۱۷)

علامه ابن حزم لیکي: څوګ چې له کافرانو سره د دې لپاره ملګری شي چې د مسلمانانو په وړاندې د دې کافرانو سره کومک وکړي، مرتد ګرځي. کله چې پرې وس بر شي وژل یې واجب دي. مال یې روا دی. د ښځې سره یې نکاح فسخ شو. د مسلمانانو په هدیره کې به نه شي ښخولی. جنازه به نشي- پرې کولی. (المحلی بالآثار لابن حزم ج۱۲ص۱۲۳)

بلکې د مسلمانانو په ضد د کافرانو سره تعاون کونکی د امت په اجماع کافر بلل شوی. امام ابن حزم په دې اړه د اجماع دعوی کړې.نوموړی لیکي: دا ایت په خپل ظاهر باندې دی او داسې کس کافر دي چې په دې کې دوه کسان هم مخالف نه دي. (المحلی بالآثار ج۱۲ص۱۲۵)

ځینې علم ته ځان منسوبونکي د حاطب بن ابي بلتعه قصه په دلیل کې راوړي او وایي چې له کافرانو سره مرسته مطلقاً کفر نه دی او تَوَلِّيْ یواځې په یوه حالت پورې خاص بولي چې د کافرانو سره د دوی د دین له امله دوستي کول دي.

خو د حدیث په علم ماهر خلک پوهیږي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر رض ته داسې ونه ویل چې نوموړی مسلمان دی او مسلماني د نوموړي د وژنې مانع شوه بلکې داسې یې وفرمایل: حاطب بدري دی او بدریانو ته الله تعالی ویلي چې څه مو خوښه وي هغه کوئ. تاسې ته ما ښښنه کړي ده.

حافظ ابن حجر په فتح الباري کې لیکي:ووجه الدلالة أنه صلی الله علیه وسلم أقر عمر علی إرادة القتل لولا المانع وبین المانع هو کون حاطب شهد بدرا وهذا منتف في غیر حاطب فلو کان الإسلام مانعا من قتله لما علل بأخص منه.

ژباړه: له دې حدیث څخه د دلیل وجه دا ده چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عمر رض د حاطب د وژنې په اراده همداسې پریښود. که دغه مانع چې د حاطب د وژل کیدو مخه یې ډب کړه، نه وی، نو حاطب به وژل شوی ؤ او هغه مانع د حاطب بدریتوب ؤ او دا حدیث د نورو مسلمانانو لپاره دلیل نه شي کیدلی ځکه که اسلام مانع وی نو د اسلام یادونه به شوی وه خو دلته یې خاص ذکر وکړ.(فتح الباري ج۸ص٦٣٦)

د الله رسول صلی الله علیه وسلم د حاطب په اړه ونه ویل چې دا مسلمان دی بلکې ویې ویل دا بدري ده.

علاوه لـه دې د حاطـب قيصه بالعكس په دوی دليـل دی له درو املونو.

۱ - د معجـم الأوسـط پـه روايـت کـې دا حـديث د حضرت عمر رض پـه روايـت داسې راغلـی: قلت يا رسول الله، دعـــــني أضرب عنق حاطب بن أبي بلتعة، فقـــد كفر. قـــال: »وما يدريك يا ابن الخطاب، لعـل الله اطلع على أهل بدر فقال: اعملوا ما شئتم، فقد غفرت لكم.

ژباړه: ما ورته اويل: اې د الله رسوله ما پريږده چې د حاطـب گـردن ووهـم ځکـه نومـوړی کـافر شـوی دی. (المعجم الأوسط ج۳ص۱۱۲ حديث ۲٦٤۷)

يعنـې صـحابۀ کرامـو د کـافرانو سره دا ډول دوسـتي کفر بلل.

۲ - رسـول الله صـلی الله عليـه وسـلم د حضرـت عمر رض په ځواب کـې د ده خبره چې ګنې نومـوړی کـافر شـوی، رد نـه کـړه بلکـې د حاطب لپاره يې عذر بيان کړ.

۳ - حاطـب رض داسـې وويـل: وما فعلت كفرا ولا ارتدادا، ولا رضا بالكفر بعد الإسلام. اې د الله رسوله ما دا کار د کفر او ارتـداد لـه املـه نـه دی کړی او نه له اسلام وروسته په کفر رضا شـوی يـم (صحيح البخاري حديث ۳۰۰۷/صحيح مسلم حديث ۲۴۹۴)

د حاطب په باور هم له کافرانو سره دا ډول دوستي کفر وه.

د کافر سره د مسلمانانو په ضد مرسته کول تَـوَلِّيْ او کفـر دی. مـور يې له اسلامي تاريخ څخه لاندې مثالونه لرو.

(۱) د هجرت په دويم کال د بدر واقعه:

د بدر په غزا کې کـافرانو ځينـې مسـلمانان د بـدر ميـدان تـه پـه زور راوستلي وو خو رسول الله صلى الله عليه وسـلم د دوی سره د مسـلمانانو معامله ونکړه بلکې د کافرانو په څير تعامل يې ورسره وکړ. په داسـې حـال کې چې دوی په زور هـم راوسـتل شـوي وو. چـې د دوی لـه ډلـې يـو هـم عباس د رسول الله صلى الله عليه وسلم تره ؤ.

(۲) د هجرت په يولسم کال چـې کلـه مسـيلمة الكذاب د پيغمبری دعوی وکړه ، د بنوحنيفه قبيلې ډيرو مسلمانانو چې مسيلمة يې پيغمبر نـه بللو خو د قوميت لـه املـه يـې د ابوبکرصـديق رض پـه وړانـدې د مسـيلمة مرسته وکړه چې د ابوبکر صديق له لورې ورسره د کافرانو په څيـر تعامـل وشو.

(۳) په ۲۰۱هجري کال بابک الخرمي د کافرانو په مرسته د مسلمانانو په خاوره برید وکړ چې امام احمد یې د ارتداد فتوی ورکړه. (الفروع وتصحیح الفروع ج۱۰ص۱۸۵).

(۴) په ۴۸۰ هجري کال معتمد بن عباد د اشبیلیې حاکم افرنجیان راوستل او د ده په مرسته یې د مسلمانانو په زمکه برید وکړ چې عالمانو یې د کفر فتوی ورکړه.(الاستقصا لأخبار دول المغرب الأقصی ج۲ص۷۵)

(۵ (په ٦٦١ هجري کال ملک ظاهر او ملک مغیث عمر بن العادل د شام د قبضه کولو لپاره د هولاکو مرسته وکړه چې ابن خلکان او نورو عالمانو یې د کفر فتوی ورکړه.

(البدایة والنهایة ج۱۷ص۴۴۸)

(٦)په ۷۰۰ هجري کال تتاریانو په شام حمله وکړه چې ځینو مسلمانانو یې مرسته وکړه. علامه ابن تیمیة د دوی د ارتداد فتوی ورکړه او ویې ویل: دوی مرتدان دي اګر که دوی روژه نیسي، لمونځ کوي، زکوة ورکوي. (مجموع الفتاوی ج۲۸ص۵۳۰)

(۷) په ۹۸۰ هجري کال محمدبن عبدالله السعدي چې د مراکش بادشاه ؤ، د پرتګال له کافر بادشاه سره د خپل تره ابو مروان المعتصم باالله په ضد مرسته وکړه چې د وخت فقهاوو یې د کفر فتوی ورکړه. (الاستقصا لأخبار دول المغرب الأقصی ج۵ص٦۹)

(۸) په ۱۳۰۷ هجري کال فرانسویانو په الجزایر حمله وکړه چې ځینو مسلمانو قبیلو یې مرسته وکړه. فقیه المغرب ابوالحسن التسولي د دوی د کفر فتوی ورکړه.

(أجوبة التسولي على مسائل الأمير عبد القادر الجزائري ص۲۱۰)

(۹) په ۱۳۵۳ هجري کال فرانسویانو او برطانویانو په مصر او لیبیا برید وکړ او ځینو مسلمانانو د دوی مرسته وکړه چې شیخ احمد شاکر د دوی د کفر فتوی ورکړه.

(کلمة حق للشیخ احمد شاکر ص۱۲٦)

(۱۰ (په ۱۳٦٦ هجري کال چې کله یهودانو فلسطین قبضه کړ، د شیخ عبدالمجید سلیم په مشری د ازهر عالمانو د هغه مسلمانانو د کفر فتوی ورکړه چې د یهودانو سره یې مرسته کړی وه.

(۱۱)په ۱۴۰۳ هجری کال روسانو په افغانستان برید وکړ چې د نړۍ ټولو عالمانو د هغه کمونستانو د کفر فتوی ورکړه چې له روسانو سره یې مرسته کړي وه.

(۱۲ (په ۱۳۹۸ هجري کال د عبدالعزیز بن باز په مشری د سعودي مخورو عالمانو د هغه مسلمانانو د کفر فتوی ورکړه چې په فلسطین کې یې د یهودانو مرسته کړی وه او یا په نوره نړۍ کې د کافرانو مرسته کوي. (مجموع الفتاوی لابن باز ج۱ص۲۷۴)

(له نن ټکي آسیا نه په مننه)

جنګي جنايتونه

(جنـــوري)

سيد سعيد

دروان(۲۰۱۷ز) کـال دجنـوري دمياشـتي پـه ۳مه نيټه د غزني ولايت دقره باغ ولسوالۍ په ارباب کلا سيمه کي داخلي عسکرو يو محصل(سيدرحمان د عبدالرحمان زوی) شهيد کړی،د شهيد دوارثانو پـه وينا نوموړی خپل کورتـه پـه رختصـی راغـلي ؤ،څلـور ورځـي وړانـدي عسـکرو ونيـو او اوس يـې جسد پـه داسي حالـت کـي پيـدا شـو چـي د شـکنجو نښـي ورباندي ښکاري.

د جنـوري پـه ۳مـه دکنـدهارولايت د ميونـد ولسوالۍ د بندتيمور دمکتب په سيمه کي يرغلګرو ځواکونو د داخلي عسکرو په ملتيا چاپه وهلې،دوه تنه ولسي وګړي يې شهيدان کړ ي اودوه تنه يـې ټپيـان کړي دي.

د جنـوري پـه ۵مـه دزابـل ولايـت د شـاجوی ولسـوالۍ د مـوسي زو غونـډۍ سيمه کـي داخـلي عسـکرو يـو سـپين ږيـری(عبدالسـلام کاکـا) شـهيد کړی دی،همدارنګه تردې پيښې دوې ورځي وړانـدي هـم عسـکرو پـه سـيمه کـي يـو لـس کلـن ماشـوم دشيرمحمد زوی شهيد کړی دی .

د جنوري په ۵مه د ننګرهار ولايت د پچير اګام ولسوالۍ په پاس صبر لنډه خپلو سيمه کـي د کورنيـو عسکرو د هاوان په ډزوکي دوه ماشومان شهيدان او يو تن ژوبل شوی دی.

د جنوري په ۷مه د لغمان ولايت مرکز مهـترلام په بسرام سـيمه کـي دخـايې عسـکرو پـه ډزوکـي يـو ملکي وګړی شهيد شوی دی.

دجنوري په ۷مه رسنيو خبر ورکړ چي: د کاپيسا ولايـت پـه تګـاب ولسـوالۍ کـي دداخـلي عسـکرو دعمليـاتو لـه امليه پـه سـلهاوو کـورنۍ کـډي کولـو تـه مجبوري شوي دي،د قومي مشر نجيـب الله رحيمـي په قول ۴۵۰ کورنۍ دژمي په سړه هوايې کي له خپلـو کورونو وتلي او ترشنه اسـمان لانـدي سـختي شـپې تېروي.

دجنـوري پـه ۹مـه د پکتيـا ولايـت د زرمـت ولسوالۍ په مربوطاتو کي د داخلي عسکرو په ډزوکي يو ملکي وګړی شهيد شوی او درې تنه ټپيان شـوي دي.

دجنوري په ۱۱مه خبر ورکول شو چـي دنيمـروز ولايـت د خـاشرود ولسـوالۍ پـه خيرابـاد سـيمه کـي داخـلي عسـکرو دعمليـاتو پـه مهـال لـس تنـه ملکـي هيـوادوال ژوبـل کـړي او درې تنـه ماشـومان يـې شهيدان کړي،دخلګو نقليه وسـايط يـې سـوځولي او کورونه يې په بلدوزورنو وران کړي دي.

د جنـوري پـه ۱۲مـه، شـپې مهـال د ننګرهـار ولايت د غني خيلو ولسوالۍ په ۲۶ نمبرويالي سيمه کي يرغلګرو دداخلي عسکرو په ملتيا چاپـه وهلـې،د تـلاشي پـه مهـال يـې د يـو ملکـي هيوادوال(حـاجي حضرت اکا) په کـور کـي څلـور تنـه ماشـومان او درې

تنه مېلمانه شهیدان کړي او دهمدغه کور شپږ تنه غړي یې بندیان کړي دي.

د جنوري په ۱۲مه دفراه ولایت د مرکز مربوط په کوره ګز سیمه کي کورنیوعسکر و دطالبانو سره د همکاري په شک ځلور ویشت تنه ولسي ـ وګړي بندیان کړ ي دي.

د جنوري په ۱۲مه د کاپیساولایت د نجراب ولسوالي په افغانیه سیمه کي دکورنیو عسکرو دثقیله وسلو په ډزوکي دوه تنه ولسي ـ وګړ ي شهیدان شوي او درې تنه ژوبل شوي دي.

د جنوري په ۱۲مه د بدخشان ولایت مرکزفیض اباد اتمي حوزې مربوط په خمبیل سیمه کي اربکیانو یوې دیني مدرسې ته اور ورته کړی،په پیښه کي قران کریمونه،کتابونه او نور درسي توکي سوځول شوي دي.

د جنوري په ۱۵مه دکندز ولایت دخان اباد ولسوالي داخلي عسکرو درې تنه استادان او دوه زده کونکي بندیان کړي دي.

د جنوري په ۱٦مه د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالي له ځلورم فار م سیمي څخه داخلي عسکرو دهاوان پیرونه کړي،دهاوان یوه ګولي په شینوارو کلاکي پر یو کور لګیدلې او له امله یې یوه ښځه شهیده شوې ده.

دجنوري په ۱۷مه د کندهار ولایت په نیش ولسوالي کي اربکی قومندان نیازو یوې مدرسې ته ورغلی،یو طالب العلم یې په وهلو کي شهید کړی دی.

دجنوري په ۲۰مه د فراه ولایت مرکز اړوند سور کلي کي پولیسو له خپل موټر څخه ماشومانوته بم ور غورځولی،دوه ماشومان یې شهیدان کړي او یو یې ټپي کړی دی،د وژل شوو ماشومانو اکا عبدالروف ویلي چي دروو واړو ماشومانو پسونه څرول چې د پیښې ښکار شوي دي،نومورې دخپلو کوچنیانو د قاتل دمحاکمې غوښتنه کړې او دغه عمل یې نه توجیه کیدونکی جرم بللی دی.

دجنوري په ۲۲مه د اروزګان ولایت د ملکي روغتون رئیس(توخي) رسنیو ته وویل چې د چورې ولسوالي څخه څوارلس تنه ټپیان روغتون ته ور وړل شوي دي،نوموړي وویل چي دغه ټپي شوي ولسي وګړي د تېري جمعې په ورځ دهوایې ځواکونو په بمباریو کي ژوبل شوي دي او څرګنده نه ده چي په دغه پیښه کي به څومره ولسي وګړي وژل شوي وي.

د جنوري په ۲٦مه دهلمند ولایت د نوزاد ولسوالي د سلام بازار په سیمه کي اشغالګرو دکورنیو عسکرو په مرسته دچاپې په مهال درې تنه ولسي ـ وګړي شهیدان کړي او دوه تنه یې ټپیان کړي دي.

د جنوري په ۲۹مه د کنړولایت د سرکانو ولسوالي د دې په کلي کي د داخلي عسکرو د هاوان په پیرونو کي د ښایسته ګل په نوم یو ملکي وګړي میرمن او یو ماشوم ژوبل شوي او یوبل ماشوم یې شهید شوی دی.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویپانه ،لراوبر= ،نن ټکی اسیا=اوبینوا=]

په تېر ۲۰۱٦ز کال کې

په جنوب لويديځو ولايتونو کې د کابل اداري
د لوړ رتبه نظامي چارواکو د ځاني تلفاتو شمېره

تيرې۲۰۱٦ميلادي کال لکه دتيرو کلونو په شان داسلامي امارت دمجاهدينو لپاره همداسي له بريالوو او فتوحاتو ډک کال وو او د دې کال تر بشپړتياپورې مجاهدينو وکولای شول چې دخدای په فضل سره فتحه ه شوې ولسوالی وساتي او نورې فتحه ه کړي چې دا مهال دټولو فتحه شويو ولسوالیو تعداد ۴۱ ته رسيږي، الحمدلله چې دا داسلامي امارت دلا بريا او دخارجي او داخلي دښمن درسوايي او مطلقه ناکامي ستر دليل دی. ددې تر څنګ دکندز ، هلمند، ارزګان، فراه او فارياب ولايتونو مراکز د مجاهدينو تر محاصرې لاندې راغلل، او ددې کال په اړدو کې الحمدلله چې دحقائقو په درک کولو سره له ګوډاګي اداري څخه زرګونه عسکر او پوليس راجلا او داسلامي امارت له مجاهدينو سره يو ځای شول، همداراز مجاهدين وتوانيدل چې له دښمن نه زرګونه ميله سپکه اودرنه وسله او په زياته اندازه شوبلې رينجر موټر او نور عراده جات په غنيمت ونيسي۔ د دښمن (۱۷۵۳۹) عسکر، پوليس او اربکيان ووژل شول، په وژل شوو کې سلګونه تنه د دښمن لوړپوړي قومندانان او چارواکي شامل دي چې زه يې دلته صرف د۱۲ ولايتونو د قومندانانو شمير چې دخبر مسئوليت يې لرم او تعداد يې (۲۴۸) ته رسيږي، تاسوته په لاندې نوم لړ کې وړاندې کوم. البته په ۲۲ نورو ولايتونو کې د دښمن د وژل شوو قومندانانو ليست ماته نه دی رسيدلي.

قاري محمديوسف احمدي د اسلامي امارت ويانډ ۲۰۱۷/۱/۱م ۲/۴/۱۴۳۸هق

په دولسو ولايتونو کې د دښمن د وژل شوو قومندانانو نوم لړ:

ارزګان

۱ـ مراجان داستخباراتو رئيس ---- ترينکوټ
۲ـ دچوري دامنيت معاون جبارخان --- چوره
۳ـ قومندا ن جميع الله --- چنارتو
۴ـ قومندان نسيم --- چارچينې
۵ـ قومندان کامران
٦ـ قومندان داود سيار ---- چارچينې

۷ـ جګړن عزیز خان کونړی --- ترینکوټ
۸ـ قومندان ولیداد --- چوره
۹ـ قومندان عریز الله --- چوره
۱۰ـ قومندان عصمت ---ترینکوټ
۱۱ـ قومندان فضلی احمد --- ترینکوټ
۱۲ـ قومندان احمدشاه ---چوره
۱۳ـ قومندان سیف الله --- ترینکوټ
۱۴ـ قومندان عبدالغفار --- چنارتو
۱۵ـ قومندان تور جان --- چنارتو
۱۶ـ قومندان شاولي --- ترینکوټ
۱۷ـ قومندان سمونوال نورماد ---- ترینکوټ
۱۸ـ قومندان ابراهیم جان ترینکوټ
۱۹ـ قومندان دارزګان رئیس ارکان او ورسره ځلور نورقومندانان --- ترینکوټ
۲۰ـ معاون رحیم --- دهراود
۲۱ـ قومندان یوسف --- ترینکوټ
۲۲ـ معاون نصیر --- خاص روزګان

هـــــرات

۲۳ ــ دخاص قطعې آمرکشف جنرال غوث الله --- هرات ښار
۲۴ـ قومندان رئیس ارکان نادرشاه --- کشک کهنه
۲۵ـ دتروریزم مدیر غلام صدیق حسینی ---کهسان
۲۶ـ دګلران قومندان --- پښتون زرغون
۲۷ـ دټولی معاون --- شینډنډ
۲۸ـ قومندان عبدالقیوم ټولې مشر---- ګذره
۲۹ـ قومندان حکمتک --- شینډنډ
۳۰ـ یو صاحب منصب او یو خوردضاذط --- ادرسکن
۳۱ـ قومندان بسم الله ---کرخ
۳۲ـ قومندان شبیر --- تور غنډی
۳۳ـ دهرات دظفر قل اوردو رئیس ارکان ---- غور چل ګزي
۳۴ـ قومندان شریف --- شیدایي
۳۵ـ قومندان احمد غوث --- رباط سنګي
۳۶ـ قومندان زلی ---- سرجنګل
۳۷ـ قومندان عبدل ---شینډنډ
۳۸ـ قومندان صیفور --- کشک کهنه

بادغیـــــس

۳۹ـ قومندان الهداد--- سنګ آتش
۴۰ـــ دچټک غبرګون دقطعې قومندان ابراهیم--- سنګ آتش
۴۱ـ قومندان حفیظ الله --- سنګ آتش
۴۲ـ قومندان اسدالله ---قلعه نو
۴۳ـ قومندان معلم یوسف
۴۴ـ قومندان عصمت --- دره بوم
۴۵ـ قومندان قادرخان --- قادس
۴۶ـ قومندان محیی الدین ---قلعه نو
۴۷ـ دهرات د۲۰۷ ظفرقل اوردو قومندان غلام محیی الدین غوري

غـــــور

۴۸ـ قومندان عبدالله ګیڑک --- پسابند
۴۹ـ قومندان نرالله --- غورمرکز
۵۰ـ دملي امنیت صاحب منصب - دغورمرکز
۵۱ـ قومندان محمود (سلیم)
۵۲ـ دجلب وجذب رئیس--- شهرک
۵۳ـــ دمستوفیت دعوائدو رئیس ډاکټر عبدالحق رسولي ---مرکز

۵۴ـ دځانګړې قطعي مرستيال قومندان الله ياري --- چلګزي بند

فاريـــاب

۵۵ـ قومندان مومن --- آق دره

۵۶ـ قومندان ضيآء الدين بادغيسي --- قرمقل

۵۷ـ قومنـدان نجيـب دبلچـراغ امنيـه قومنـدان--- گرزيوان

۵۸ـ قومندان عبدالرحيم--- شيرين تګاب

۵۹ـ قومندان ا رباب غلام سخي --- قرمقل

۶۰ـ سابق ښار وال فيض الله ---دولت آباد

۶۱ـ قومندان نورل --- منطقه صياد

۶۲ـ قومندان ملا قادر --- پښتونکوټ

۶۳ـ قومندان ګلزار --- المار

۶۴ـ قومندان عزيز اربکی ---گرزيوان

۶۵ـ قومندان عبدالرحمن ---گرزيوان

۶۶ـ قومندان پهلوان - جمعه بازار

۶۷ـ قومندان جوره بيګ --- خان چارباغ

۶۸ـ قومندان ملا محراب

۶۹ـ قومندان بازمحمد

۷۰ـ جمعه بازار کي قوماندان سخي عثماني

۷۱ـ المار کي قومندان توخمتيش

۷۲ـ پښتونکوټ کي قومندان غوث الدين

۷۳ـ قومندان غلام ---پښتونکوټ

۷۴ـ قومندنان حـاجي مقيم دقومنـداني معـاون ---- شيرين تګاب

۷۵ـ سرپرست ولسوال حيات الله ـــ چل ګزی

۷۶ـ قومندان نظير ميده ----- جمعه بازار

۷۷ـ قومندان الله مراد --- دولت اباد

۷۸ـ قومندان نجم الدين --- چارشنبې

۷۹ـ قومندان شاه محمد

۸۰ـ قومندان ميرويس

۸۱ـ قومندان مجيد قره ---- قيصار

۸۲ـ قومندان سيف الله --- جمعه بازار

۸۳ـ قومندان غلام (کور) پښتونکوټ

۸۴ـ قومندان امرالدين ---- جمعه بازار

۸۵ـ قومندان فيض ---- پښتونکوټ

۸۶ـ ـ قومندان مؤمن --- گرزيوان

۸۷ـ قومندان عبدالرحيم --- جمعه بازار

۸۸ـ قومندان کمال --- شيرين تګاب

۸۹ـ قومندان حاجي گی ---شيرين تګاب

۹۰ـ قومندان جليل پهلوان --- شيرين تګاب

۹۱ـ قومندان قلندر --- شيرين تګاب

۹۲ـ قومندان سراج الدين --- قرمقول

هلمـــــــــند

۹۳ـ قومندان نعمت الله --- ګرشک

۹۴ـ قومندان عطا مير آګاه --- نوزاد

۹۵ـ قومندان تواب --- ناوه

۹۶ـ قومندان نبي جان ---خانشين

۹۷ـ قومندان محبوب --- ګرشک

۹۸ـ قومندان نوراحمد بابازوی

۹۹ـ معاون يې --- --- ګرشک

۱۰۰ـ قومندان معصوم --- کجکی

۱۰۱ـ ضابط عبدالولي ---ګرمسير

۱۰۲ـ قومندان عبدالله ---ګرشک

۱۰۳ـ قومندان عبدالباري ګرمسير

۱۰۴ـ قومندان نقيب الله --- لشکرګاه باباجي

۱۰۵ـ قومندان مولا جان --- نهرسراج
۱۰۶ـ قومندان شیر اغا --- باباجي
۱۰۷ـ قومندان بډک --- ګرمسیر
۱۰۸ـ قومندان نسیم ---نادعلي
۱۰۹ـ قومندان رحیم الدین دګرشک دامنیت رئیس - -- ګرشک
۱۱۰ـ قومندان دیوانه --- ګرشک
۱۱۱ـ دلشکرګاه امنیه قومندان غلام جیلاني خروټی ---مرجه
۱۱۲ـ قومندان ضیآءالحق ---بولان
۱۱۳ـ قومندان مجاهد ---لشکرګاه
۱۱۴ـ قومندان فاضل ---باباجي
۱۱۵ـ قومندان عبدالکریم ---ګرمسیر
۱۱۶ـ دلشکرګاه دځلورمې حوزې قومندان نقیب الله
۱۱۷ـ دګرمسیر دولسوالۍ سترمن
۱۱۸ـ په ناوه کي قومندان ښائسته خان
۱۱۹ـ دناوې دخاد رئیس
۱۲۰ـ نادعلي کي قومندان حاجي لال جان
۱۲۱ـ قومندان اسد ---- خانشین
۱۲۲ـ قومندان بریالی ---+===
۱۲۳ـ قومندان عبدالجبار ------ ګرشک
۱۲۴ـ قومندان سلطان حمد نادري ---- ناوه
۱۲۵ـ قومندان کولالا ----- لشکرګاه
۱۲۶ـ قومندان احمدشاه سالم
۱۲۷ـ قمندان زمری
۱۲۸ـ قومندان محمد امین ---- ناوه
۱۲۹ـ قومندان رسولیار
۱۳۰ـ قومندان علي احمد ---- واشیر
۱۳۱ـ قومندان بسم الله جان --- نهرسراج
۱۳۲ـ قومندان عبدالظاهر --- خانشین

زابـــــل

۱۳۳ـ قومندان محمد ا مین ---قلات
۱۳۴ـ قومندان ګوډ روزي --- قلات
۱۳۵ـ قومندان صدیق --- قلات
۱۳۶ـ ټولۍ مشر فدامحمد --- ارغنداب
۱۳۷ـ دظافرخیلو دپوستې قومندان --- قلات
۱۳۸ـ قومندان سیفو --- قلات
۱۳۹ـ قومندان حیات الله --- شاجوی
۱۴۰ـ قومندان حضرت ---- نوبهار
۱۴۱ـ قومندان حکمت --- نورک
۱۴۲ـ قومندان قومندان داروخان --- کلارشید
۱۴۳ـ قومندان بهار --- شاجوی
۱۴۴ـ قومندان حاجي ګل اغا --- شاجوی
۱۴۵ـ قومندان سید محمد --- شاجوی
۱۴۶ـ قومندان شاهزاده ----- مرکز قلات
۱۴۷ـ قومندان ګوډ عبدالرحمن --- شینکۍ
۱۴۸ـ قومندان عالم --- دشملزو ځنځیر
۱۴۹ـ ولسوال عبدالصمد درانی داتغر ولسوال --- اتغر
۱۵۰ـ قومندان ګل اغا تخاری کنډک مشر ---نوبهار
۱۵۱ـ کنډک مشر قومندان حیات خان --- شملزي کلارشید
۱۵۲ـ قومندان عبیدالله مشهور په کاکا --- قلات
۱۵۳ـ داستخباراتو مدیر نجیب --- شاجوی

ســرپـــل

۱۵۴ـ قومندان حسن

۱۵۵ــ قومندان خیرالله --- سیداباد
۱۵٦ــ قومندان وکیل خان سنچارکي --- سرپل بنار
۱۵۷ــ قومندان سیف الله
۱۵۸ــ قومندان جمعه خان ---انگورک
۱۵۹ــ قومندان صادقي --- صیاد
۱٦۰ــ آمرامنیت ایشان شرف الدین ---سنچارک
۱٦۱ــ قومندان حمیدالله --- سنچارک
۱٦۲ــ قومندان ولان قره --- المار
۱٦۳ــ قومندان عبدالقیوم ---- صیاد
۱٦۴ــ قومندان عبدالبصیر --- قیصار
۱٦۵ــ قومندان خالک --- شیرم
۱٦٦ــ قومندان عبدالوهاب --- گوسپندي
۱٦۷ــ قومندان رئیس مومن ---صیاد
۱٦۸ــ قومندان گلبدین ---- شیرم
۱٦۹ــ قومندان عبدالبصیر--- قیصار
۱۷۰ــ قومندان هاشم-
۱۷۱ــ قومندان امان الله ----سنچارک

فـــــراه

۱۷۲ــ صاحب منصبان ظاهر او قدیر --- فراه بازار کي
۱۷۳ــ قومندان شکورک --- خاک سفید
۱۷۴ــ دجلب اوجذب رئیس ---پشترود
۱۷۵ــ قومندان جهانگیر
۱۷٦ــ قومندان نورالله --- بالابلوک
۱۷۷ــ قومندان حمید ---پرچمن
۱۷۸ــ قومندان عبدالصمد ---بالابلوک
۱۷۹ــ قومندان موسی ---پسترود
۱۸۰ــ قومندان حسن ---- شبیکوه
۱۸۱ــ قومندان جلال الدین --- پشترود
۱۸۲ــ دپوستي معاون --- دفراه بنار
۱۸۳ــ کاتب نذیر جنبشی --- سنچارک
۱۸۴ــ آمرشریف خان
۱۸۵ــ صاحب منصب وحید
۱۸٦ــ صاحب منصب فرید ---جواین
۱۸۷ــ دبکوامنیه قومندان گل احمدخان
۱۸۸ــ دخادرئیس جیلاني خان
۱۸۹ــ ټولې مشر فواد
۱۹۰ــ دوه نورضابطان --- بکواقومنداني
۱۹۱ــ قومندان زمری --- فراهرود
۱۹۲ــ دمنډې دپوستي قومندان - فراهرود بازار
۱۹۳ــ قومندان عبدالله --- فراه پشترود

کندهـــــار

۱۹۴ــ قومندان عبدالرازق --- میوند
۱۹۵ــ قومندان اسد --- کندهاربنار
۱۹٦ــ قومندان رشید خان --- شاولیکوټ
۱۹۷ــ قومندان اغاولي --- ژړی
۱۹۸ــ قومندان اکا --- ژړی
۱۹۹ــ معاون حبیب الله --- بولدک ویش
۲۰۰ــ قومندان خان --- تخته پل
۲۰۱ــ قومندان خان اغا --- دامان
۲۰۲ــ قومندان نوراحمد ---کندهاربنار

۲۰۳ــ ضابط وزیرملنګ --- میوند
۲۰۴ــ قومندان عصمت او باډیګار--- شاولیکوټ
۲۰۵ــ د۲۰۵ اتل قول اردو لمړی لواء قومندان جنرال عبدالبصیر شهروند --- شاولیکوټ
۲۰۶ــ هدایت الله سوپ وال --- عینو مینه
۲۰۷ــ قومندان عبدالبصیر --- معروف
۲۰۸ــ قومندان اربکی فضل احمد --- ارغنداب
۲۰۹ــ قومندان خدایداد --- بولدک
۲۱۰ــ قومندان عوض --- ارغنداب
۲۱۱ــ قومندان عبدالحکیم
۲۱۲ــ معاون یې حاجي لالا ---خاکریز
۲۱۳ــ قومندان علاء الدین --- بولدک
۲۱۴ــ دملی امنیت مدیر عتیق الله --- بولدک
۲۱۵ــ قومندان نجم الدین او معاون یې --- شورابک
۲۱۶ــ قومندان فدامحمد ---شورابک
۲۱۷ــ جاسوس معلم اکرم --- ارغنداب
۲۱۸ــ قومندان سلام --- بولدک
۲۱۹ــ دقومندان عبدالرازق باډی ګارډ فضل احمد --- - کندهار ښار
۲۲۰ــ قومندان روزي --- میوند
۲۲۱ــ قومندان امیرمحمد
۲۲۲ــ قومندان فولاد
۲۲۳ــ قومندان اعظم ----شاولیکوټ
۲۲۴ــ قومندان طاهر --- میوند
۲۲۵ــ قومندان عیسی خان --- ارغستان
۲۲۶ــ قومندان حاجي لالا دغورک دپوستو قومندان ---- کندهار ښار
۲۲۷ــ دنیش ولسوالي د امنیت مدیر هارون --- کندهار ښار
۲۲۸ــ قومندان اکبری چې ډیرظالم کس وو --- معروف ولسوالي
۲۲۹ــ قومندان ګران --- تخته پل
۲۳۰ــ قومندان بشیر --- نیش
۲۳۱ــ قومندان ضابط افغان --- کندهارښار میرزااحمدخان کلاچه
۲۳۲ــ قومندان سردار --- نیش
۲۳۳ــ قومندان عبدالرؤف --- نیش
۲۳۴ــ قومندان سور موسا - بولدک مامانري کي
۲۳۵ــ قومندان بشک او معاون یې ګلاب --- ژړی سنزري کي
۲۳۶ــ قومندان داوود --- ډب خاکریز
۲۳۷ــ معاون ملک کریمداد --- بولدک

نیمروز

۲۳۸ــ قومندان غازي --- دلارام
۲۳۹ــ قومندان سکندر --- خاشرود
۲۴۰ــ ډګروال رحیم --- نیمروزبازار
۲۴۱ــ مامور احمد --- خاشرود رزي
۲۴۲ــ قومندان عبدالولي --- چخانسور
۲۴۳ــ صاحب منصب عبدالقادر --- خاشرود مرکز
۲۴۴ــ افسر تاج محمد دتروریزم مسئول--- زرنج
۲۴۵ــ قومندان شاه محمد -
۲۴۶ــ قومندان فیض محمد --- کنګ

دایکندي

۲۴۷ــ قومندان تاتا عبدل --- اجرستان
۲۴۸ــ ظالم اربکی نیکو--- ګیزاب

د مورچل وږمي

غــزل

(مسروري)

ستوری شهیدشوی ووسپوږمۍ ورته ولاړه
وه پروت وویوزلمی یوه خورکۍ ورته ولاړه وه

ستوري په ژړاوه هم اسمان ورباندي وژړل..
چي په ډکوسترگوناوکۍ ورته ولاړه وه

تاخوپه رشتیاپرماچناره ځواني بائلول..
ډېرپسي ژړله ازادۍ ورته ولاړه وه

سترگي دشهیدجانان کږې وې داسمان لورته..
هلته انتظارحوره تنکۍ ورته ولاړه وه

زویه زه دي چاته تنهاپرېښودم اولاړې
ته.. داسي یې ویل خواره مورکۍ ورته ولاړه وه

نیم امیدیې پاتي شودژوندارمان یې سرنشو
ړنگه بنگه هیله دځوانۍ ورته ولاړه وه

پس له څوشېبویې مسروري قبرته ورغلم..
خړ دخاورو قبروو جنډۍ ورته ولاړه وه .

عصمت الله (عاجز)

خطاب تعریفی به امارت اسلامی افغانستان

ای مارت سازگار کشوری
درحقیقت افتخار کشوری
رفت رقیبانت بدام اجنبی
قاطعانه ماندگار کشوری
جدَی هستی تو بخط سنگرت
مرجع قاطع،وقار کشوری
بُعد جنگت قاطعیَیت در مسیر
تا به فعلاً نامدار کشوری
دیگران بلعیده شد با مادیات
نورچشم تاج دار کشوری
خاک دان کرد اجنبی این مملکت
گرکنی جنگ گلزار کشوری
مملکت پُراز فساد مفسدین
گرکنی پاک پایداری کشوری
افتخارات یک قلم برباد شد
گرکنی احیاء نگارکشوری
نسوان مملکت بی پرده شد
صرف شما ناموس داری کشوری
ترویج رشوت بشد رائیج،وطن
گرکنی گم پاسدار کشوری
نمره اعلی زمانی میبری
گرکنی جهد منَت گذار کشوری
خار زار شد سبزه زار معنوی
جز تونیست شریعت مدارکشوری
ملت ما پایمال خصم شد
کن توجه در مدار کشوری
علم،دانش،معنویتت رخت بست
زنده سازی شهسوار کشوری

غـــــزل



هـلال،مـهـاجـر

لکـه خـومره چـې ایمـان رابانـدې کـران دی
بـس همـدومره مـې جانـان رابانـدې کـران دی

دزړه وینـې ورکـوم زړه کـې یـې سـاتم
لکـه زړه اولکـه خـان رابانـدې کـران دی

چـې یوسـف یـې دادې خلـک بـولی
هـازوی مـړئ طالـب جـان رابانـدې کـران دی

دسـتړیااثریې شـکاری پـه مزلـه کـې
داچـې مـات مـات دائ روان رابانـدې کـران دی

پـری زیبایمـه اوروح مـې پـری تـازه دائ
لکـه کـل لکـه بسـتان رابانـدې کـران دی

چې هرځوک وی خوچې ستادادین پاسبان وی
رب هغـه دروندانسـان رابانـدې کـران دی

،هـلال جانـه،رقیبان یـې دومـره ډیـردي
لکـه خوارافغانسـتان رابانـدې کـران دی

بل خـــوب

(سمیع الله ټرون)

خـوب مـې لیـدلی دی حیرانیـم وښـه
ښـه راپورتـه شـي تـه رقم وخـوري

بـلالـه لـوړ وبامـه وغـوږ ونیـوې
لاتـرې پـه تمـکه کـې یـې بـم وخـوري

د پاچـا سـره ګډې کـې مـات شـي
دوډلـې زهـریـی ډوسـتم وخـوري

زمـا دښـکلو پسـرلو قـاتلان
زمـا غـاښـونـه زمـا شـړشـم وخـوري

د ادم ذاتـه د غفلـت پـه وجـه
بنـی ابلـیس بنـی ادم وخـوري

یـو خـو کمـزوري میرتـوب راتـولـ شـي
مـار خـوري لـیکـه خـوري لـرم وخـوري

د هغـه چـا مقابلـه کرانـه ده
هغـه چـې مـرک بانـدې قسـم وخـوري

زه بـه یـې څنګـه دښـمن نـه ګڼمـه
څـوک چـې زلمـي زمـا د چـم وخـوري

ټرونـه حـق تـه شـاعري پـرې کـوه
خیـر دی کـه وینـه دې قلـم وخـوري

۲۰۱۷ زکال

د جنـــوري مياشتې جهادي خبرونه

لا إله إلا الله محمد رسول الله
أسلام إمارت

لا إله إلا الله محمد

ISLAMIC, JIHADY , EDUCATIONAL
AND CULTURAL MONTHLY JOURNAL

MORCHAL